کابل

ادبی، تاریخی او اجتماعی

sep. Oct. 61

F.

2 - JUN 22
Copy 1962

میاشتنۍ خپرونه

د پښتو ټولنې

۱۳٤۰

پرله پسې ګڼه ۵۰۴

۷

پخوانی هم‌ټول داستاپه رازسړی وو
چه نورخلق ملامت دریا ندې وایی

ته‌هم پاڅه دهغو په‌شان همت کړه
لاپخواترخلقوخپل‌ځان ملامت کړه

رحمان بابا

تله (۱۳٤۰ش) کال د (۱۳۸۱ق) کال
د ۱۹٦۱ کل ستمبر اوا کتوبر

امیتاز : دپښتوټولنې

دپښتوټولنې مشر : گل‌پاچاالفت

مسؤل‌مدیر : محمد صدیق‌روهی

مهتمم محمدمومن‌پت‌وال

په‌دې ګڼه‌کښې

لیك	لیکوال	مخ
له‌محترم‌لوستونکو سره	روهی	۱
دمذکرجمع	عبدالله بختانی	٦
په‌خوارزم کښې	دعبدالشکور رشادترجمه	۱۸
دفضا مېلمه	سعدالدین شپون	۲٦
پرادبیاتوانتقاد	دظاهرافق ژباړه	۳۰
اشعار	دځینو شاعر انوله خوا	٤۳
هگل‌اودروح‌فلسفه	گل‌محمدنورزی	۳۸
نوې ژبپو هنه	حبیب الله‌تږی	٤۱
میراث	عبدالرؤف قتیل‌خوږ یانی	٤۷
مرحوم سید احمد پاچا	اداره	٦۰

له محترم مولوستونکو سره یو څو خبرې

هر کله چه دیوې مجلې چارې نوی چلونکی ته ورسپارل کیږی نود معمول سره سم هغه به دمجلې په باب یو څو خبرې کوی او خپل نظر به نورو ته څرګندو ی . دهمدې اصل پر بنا زه هم غواړم چه د کابل مجلې د پر مختګ او څرنګوالی په باب دخپل نظر مهم ټکی نورو ته جوت کړم او له ښاغلو لوستونکو څخه هیله کوم چه زما دلا رښوونې دپاره دغه مطالب دانتقاد په ستر ګه و ګوری :

تر هر څه دمخه باید ووا یم چه کابل مجله دپښتنی ثقافت هنداره ده، دغې هندارې ته با ید ښه جیوه ور کړل شی او مخ یې لا نورهم پسې روښانه شی. یو څوك به د ثقافت په برخه کښې هم پوښتنه و کړی چه ثقافت یعنې څه؟ او څنګه ثقافت ؟؟ ثقافت دفکرو نو هغه سیستم ته وا یې چه دژوند موجد اولار ښو نکی وی. دیوه بل تعریف له مخې ثقا فت دټولو علومو، عقائدو ، صنعت، اخلاقو ، قوانینو، عادا تو او دبشر ی فکر دابداعاتو او محصولاتو مجمو عه ده. دغه مجموعه تر هر څه زیاته دژبې او ادبیاتو په وسیله منعکسه کیږی. په همدې اساس ویلی شو ددې دپاره چه کابل مجله په واقعی ډول دپښتنی ثقافت هنداره و ګرځی باید یو ه «ژبنی او ادبی» مجله وی. تر کوم ځایه چه په کابل مجلې پورې اړه لری زه به دژبی او ادبیاتو په بر خه کښې وغږ یزم .

ژبه او ثقافت دیوې سکې دوه مخونه دی. دیوې ټولنی ثقافت مونږ ته د هغې ټولنې په ژبه کښې پوره څرګندیږی. خلك چه خبرې کوی دهغوی افکار، عقائد، عادات، پوهه او رسم ورواج ددوی له ویناؤ څخه ښکاره کیدای شی. هغه څوك چه له پردی ثقافت څخه متأثر شوی وی ددوی له ژبې څخه معلومیږی. مګر دا باید ووایو چه ثقافتونه دیوې ونې دښاخونو په شان مستقله وده نه کوی بلکه د آسمانی وریځو په څېردی چه له هر ې خو ا نه چه بادراشی یو ه ټوټه له بلې ټوټې سره ګډ وی. همد غسې ثقافتو نه یو تر بله یو ځای کیږی او یوه ژبه له بلې ژبې سره ګډیږی. نه ژبه او نه ثقافت هیڅ یو پر خپل حال نه پاتې کیږی بلکه هر وخت تحول کوی او ددې تحول مخه څوك په زور نشی را ګرځولی. (ای. ګ. هردر) وایی: «مونږ چه د زمانې په غېږ کښې ژوند کوو باید له زمانې سره سم پر مخ ولاړ شو او که داسې و نه کړو زمانه مونږ په زوره په ځان پسې را کاږی. نېکمرغه هغه څوك دی چه په خپله خوښه د کمال په طرف

ځی .» ددې خبرومعنی داده چه مونږ په ژبه کښې له محافظه کاری اورجعت خوښولو څخه کارنه اخلو بلکه په خپلو خپرونو کښې به دخلکو ژبه یعنی دپښتنی ولس ژبه خپروو. داژبه هغه ژبه ده چه په موجوده وخت کښې یې خلك استعمالوی اویوبل ورباندې پوهوی .

البته دابیله خبره ده چه ځینی مضامین به ډېر لوړاوله علمی اصطلاحاتو څخه ډك وی او هر څوك به پرې نشی پوهیدای مگر ژبه یې باید سمه اوروانه پښتووی، تر کوم ځایه پورې موچه وس رسیږی دمجلې ژبه باید «پښتو» وی. یعنی لومړی داچه تر کیب تر تیب اوافادې ډول یې هغسی وی لکه څنګه چه یې پښتانه وایې دو همه داپه کوم ځای کښې چه دپښتومروج اومعمول لغتونه اوعبارات موجودوی دپردیو او ناآشنا لغاتو اوعبارتو استعمال څخه به ډډه کوو په ځینو ځایونو کښې چه پردی امامروج لغات موجود وی اودهغو په مقابل کښې دپښتو مگر غیرمانوس لغتونه ومندل شی قضاوت دلوستونکو په لاس کښې ورکووم . که څه هم په دې برخه کښې زما رایه ښکاره ده خوسره ددې غواړم چه دمحترمو لوستونکو نظریاتو ته ځای سپین پریږدم..

دوهمه خبره دادبیاتو په باب کښې ده: تر اوسه پورې هم داپوښتنه دشاعر انواو ادیبانو ترمخ پرته ده چه «هنردهنردپاره» دی او نه «هنردژوند دپاره؟» ویکتور هوګووایې « که په لوړنظر وګورو په شعر کښې دښه اوبد موضوع نشته. شاعران ځینې ښه اوځینې بددی. له بلې خوا هرشې دشعرموضوع کیداشی اوهرشې د شعر هېواد ته دننوتلوحق لری . نوباید دا پوښتنه ونشی چه کوم علت شاعرد خوشحالوونکی یاژړه وونکی، وپروونکی یاژړه وړونکی موضوع د انتخاب دپاره مجبور کړی دې. یوا ځی باید دومره وویل شی چه څنګه کاریې کړی دې دڅه شی په باب اوولې یې کړی دی »

بل ځای وایې «سل واره وایم : هنردهنردپاره» یو بل شاعر تؤفیل ګویته وایې : «شعرڅه ګټه لری ؟ ښکولا ! ایافقط داخبره کافی نه ده . دګلانو په شان ، دعطرونو په شان دمرغانو په شان ، دهغو ټولو شیانو په شان چه بشر یې په خپله خوښه نشی ضایع کولې او تغیر نشی ورکولی په عمومی ډول هرشی چه ګټورو ی ښکلی کیدای نشی. ځکه چه په ورځنی ژوند کښې په کاریزی، له شعرڅخه نثر جوړیږی اوساهو په مریې بدلیږ ی .

.... هنراز ادی ده ، هنرد گل په شان غوړیدل د ی ، هنر په ستونزه کښې دروح غوړیدل د ی . نقاشی ، د مجسمې جوړول او موسیقی

مطلقاً په هیڅ درد نه خوری ...» همدغه شاعر په بل ځای کښې وایي :«مونږ دهنر د آزادی ساتونکی یو .

زموږ دپاره هنر وسیله نه ده ، بلکه هدف دی . هرهنر من چه بی له ښکلا څخه د بل څه په باره کښې فکر کوی ، زمونږ په نظر هنر من نه دی ...» تئو فیل گویته دیو بل کتاب په مقدمه کښې وایی ، « یوا ځی په واقعی ډول هغه شی ښکلی دی چه دهیڅ درد دپاره دوا نه وی .

هر گټور شی بدرنگه دی ځکه یو احتیاج بیانوی اود انسان احتیاجات ، دده د عاجز او بیچاره مزاج په شان ، ټیټ او نفرت راوستونکی دی. » دادهغو شاعرانو خبرې وی چه دوی هنر دهنر دپاره غواړی . مگرهنر نه دومره خودخواه دی او نه په دی خبره پوهیږی مونږ بې ځایه زیار باسو چه دد غه ښکلی بت لمانځنه او پرستش وکړو ځکه چه هغه نه شعور لری او نه زموږ پرستش دهغی په نظر څه ارزښت لری . له بلی خوا موږ ښکلا ښکلا یاد وو په داسی حال کښې چه ښکلا له موږ څخه په بیله نړی کښې ژوند نه کوی .

هرڅوك یا هرشی یا ښکلی دی یا بدرنك ښکلا له ژوند څخه بیله نه ده .

موږ دهغه گل په حال تاسف کوچه په کمره کښی لوی شی ، وغوړیږی ، وچ شی او د چا ستر گی پرې خوږی نشی . که هنر او ښکلا زمونږ له ژوند څخه بیل وی او زمونږ پراحساساتو اغیزه ونکړی نو مونږ څنگه کولی شوچه هغه ولمانځو او ستاینه یې وکړو . مونږ د ښکلا په واسطه خپلو احساساتو ته تسکین ورکو و او خوند ترې اخلو . مونږ چه له هرشی څخه خوند اخلو هغه زمونږ په نظر گټور دی ، مگر له آنی او مؤقتی لذتونو څخه دائمی لذتونو ته ترجیح ورکوو .

هغه هنر چه د انسانی ذوق او احساساتو مرعات پکښی نه وی شوی ، هیڅکله د هنر په مرمرین تخت باندې نه شی کښېناستلی . کله چه زمونږ خپلوان مړه وی مونږ د خوشحالی سندرې نشو ویلای . هلته چه پښی له لوږی څخه حرکت نشی کولای هیڅ ډول نغمه به مونږ داتې او نڅا دپاره په پښوو نه د روی کله چه خلك وږی وی او هنر من دخپل تفریح او تفنن دپاره طلایی بتان جوړوی ښه نه کوی او داسې هنر مندان د ټولنې دوستان نه دی.

د ژبې او ادبیاتو په باب او س همدومره خبرې بس دی. دنورو مضامینو په برخه کښې هم باید

وویل شي چه تر هرڅه د مخه مضمون باید ګټور وي او په لوستلو وارزي.

هغه مضمون نه چه بې له لیکونکي یا مترجم څخه بل څوك پرې نه پوهیږي زمونږ دپاره ارزښت نه لري. د مجلې سویه باید لوړه شي اما لوړه په دې معنی نه چه اکثر خلك ترې استفاده و نه کړای شي. زمونږ په نظر تر ټولو ښه مضمون هغه دی چه زیات خلك پرې وپوهیږي او زیات فکر ترې وا خیستل شي. په دې صورت کښې به کابل مجلې له یوې خوا دلوستونکو د علمي سویې دلوړولو د پاره کار کړی وي او له بلې خوا یې دعلم اوپوهې له تعمیم سره مرسته کړی وي

ګرانو لوستونکو ته به معلومه وي چه زمونږ اکثر لیکونکي بې له دې چه دیوې شخصي اید یا لوژ ی یا جهانبینی په مفهوم وپو هیږي هرڅه هرڅه لیکي، دهغوی معلومات تو حید شوی نه وي او زیاتره مطا لب یې یو تر بله تنا قض لري. دوی دخپلو لیکنو سبك نه پژیږني او په اکثر و مضامینو کښې یې نقیض سبکونه او افکار سره یو ځای شوي وي د کابل مجله باید دغسې لیکو نکوته لارښوونه وکړ ی او او هغو ی له ادبی سبکونو او فلسفي مکتبونو سره اشنا کړي. په دې ډول به دوی خپله لیار وپیژني او بې لارې به نه ځي. ددې مقصد د پوره کولو دپا ره بایدله نورومترقی ادبیاتو څخه زیاتې ترجمې وشي اودلیکونکو د پاره زیات موادراغونډ شي. البته له ځینو کسانو څخه اوریدل کیږي چه تقلید او ترجمه دا بتکار روح وژني. مګرداخبره درسته نه ده. دفرانسس بیکن په عقیده، ځینی خلك د میزیوپه شان دې چه مواد راغونډه وي او ذخیره کوی یې، ځینی دغهی په شان دې چه هر څه له خپلې ګیډې جوړوی، اما تر ټولو هغه کسان دی چه د مچی په شان مواد له خارج څخه ا خلی او په شاتویې بد لوی.

په ر ښتیا د لاس ته راوستلو د پاره مونږ باید مچی وروزو او د هغود پاره ګلان و کرو او مواد ورته دا غونډ کړو د مجلې د صحا فت املاء او ځینو نور و موضوعاتو کښې هم خبرې شته چه دهغوله جملې څخه د املاء په باب کابل مجله خپل مسلك سر ه سم په راتلونکو ګڼو کښې ځینی نظریې وړاندې کړی.

په پای کښې له ګرانو لوسونکو څخه غوښتنه کو م چه د کابل مجلې د پر مخ تګ او ښه وا لی د پاره خپل نظریا ت موږ ته څر ګند کړی ځکه چه دا مجله د ټولو پښتنوده او د پښتنی لیکوالو مرستې ته اړه لري. مونږ به

تر خپله وسه زیار باسو چه د مجلې علمی او ادبی معیار لوړ شی اودخپلولوستو نکوعلمی ذوق تسکین کړی.زه به دا خبره نه کوم چه ذوقونه مختلف دی او مونږ نه‌شو کولای‌چه دهر چا له ذوق سره سم‌خپرونی‌و کړوځکه دا خبر ې هغه څوك هم کوی چه د هیچا له ذوق سره سم کار نه کوی.

ددې مضمون په اخر کښې لازمه ګڼم چه د کابل‌مجلې‌دپخوانی‌مدیر بناغلی‌محمدحسن کا کړ اوددې مجلې‌دنوروپخوانیو مدیرانو خد متو نه یاد کړم او هیله لرم‌چه مونږ هم د پښتنی ټولنې لهغوښتنې‌اودوخت‌له‌ایجابا تو سره سم‌خدمت و کړی‌شو.

(په‌درناوی)

غـویـی

اې‌دفصلونو اوکښتونوپا لونکیه !

اې وفادار خدمتګار ه!ته‌ډیر لوی اوار ام قوت ښکارندوې‌یې.

زه‌له‌تاسره ډیره‌مین لرم‌ته‌په ما باندې ډیر ګران‌یې .

له تاسره دصلح غوښتلو اوعزة النفس روح موجوددی.

ته‌لکه یو ه خاموشه‌مجسمه‌خپلې کروندې ته‌ګورې اوددې دپاره چه دفداکاری وظیفه‌ترسره کړې پخپله خوښه‌درانه جغ ته سر ټیټوې.

ته‌دانسان په‌خدمت کښې دموقرفر مان بردار په‌ډول خپل عمرتېروې.

هر وخت چه‌هغه تاوهی اوژوبلوی‌دی ته‌ورته سرراګرزوې اوپه‌صبر اوتحمل‌ورته غلی‌اوارام‌ګورې.

ته‌یو هیبزې چه‌دجهان ودانول ستاوظیفه‌ده .

ته‌د انسان دتیری په مقابل کښې څه‌نه وایې اوشکایت ستاعادت نه‌دی.

ته سرکشی اونافرمانی نه‌کوې مګرزه ستاددردمندروح اواز اورم چه‌د بخارپه‌ډول اسمان‌ته‌خیژی.

زه‌ستاددرد خفیفه‌ناله اورم چه داسمانی‌سرود اودفداکاری د-رود په‌شان‌په‌دغه فضاکښې‌خپر یبزی .

ستاحقیقت په‌دغه شنه اوغلی کښت کښې ځای‌لری.

زه‌تایه همدغه‌هنداره کښې وینم اې‌وفادار خدمتګاره !

«کارد وچی»

د کابل مجلې داداري په غوښتنه د پښتو «د مذکر جمع» د اقسامو تشریح وشوه، په دې لړ کښې د نورو ژبو په تېره بیاد عربی جمع هغه شکلونه چه اوس په پښتو کښې لیکل کیږی، د مونث جمع او د جمع احکام به که وخت مساعدؤ وروسته وخپرل شی، که په دې برخه کښې څه نیمګړتیا وی د پوهولوستونکو نه دلارښوونې هیله لرم . لیکونکی

عبدالله بختانی

د مذکر جمع

۱ـ که د مفرد نوم او صفت په اخره کښې (ملینه ی) وی، نو جمع یې په دې شکلونو را ځی:

الف: که په نوم او صفت کښې خج وی نو وروستی (ملینه ی) په معروفه (ی) اوړی :

مفرد	جمع
سړی	سړی
کلی	کلی
وزی	وزی
تزی	تزی
ستوری	ستوری
غلی	غلی
سپی	سپی
اوښی	اوښی
کتونکی	کتونکی
چلوونکی	چلونکی
شړلی	شړلی
ښاغلی	ښاغلی

نوټ:
مذکر فعل او فعلی رابط مفرد چه په پورتنی صورت راځی جمع یې هم دغه شکل لری:

مفرد	جمع
راغلی دی	راغلی دی
لیکلی دی	لیکلی دی
وهلی دی	وهلی دی

ب: چه په نوم او صفت کښې خج نه وی نو جمع یې دوه شکله لری:

اول: په بې سانومونو او صفاتو کښې (ملینه ی) په (معروفه ی) اوړی:

مفرد	جمع
اغزی	اغزی
پټکی	پټکی
لښتی	لښتی

دوهم: د سا کښو په نومونو او صفاتو کښې

(۱)(ماینه‌ی) په (معروفه‌ی) هم‌اوړی، او(۲) په اخره کښې(ان)هم‌زیاتیږی‌د(ی)نه‌مخکښې توری‌ساکن کېږی اوپخپله (ی)په زور، خوځېږی‌یعنې ددغه شکل جمع دوه صور ته لری :

مفرد	جمع	جمع
زلمی	زلمی)	زلمیان
مریی	مریې	مریان
لمسی	لمسی	لمسیان
مېزی	مېزی	مېزیان
بختانی	بختانی	بختانیان
کابلی	کابلی	کابلیان
ننگر هاری	ننگرهاری	ننگر هاریان
ساپی	ساپی	ساپیان (۱)
غویی	غو یی	غو یان
خوره‌یی	خوره‌یی	خوره‌یان (۲)

نوټ : په‌دغه شکل نسبتی صفتونه چه‌په اخره کښې یې (نی) وی‌هغه یوازې‌په (معروفه‌ی) جمع کېږی :

مفرد	جمع
کوزنی	کو زنی
کورنی	کورنی
باندینی	باندینی

ج: یوسیلا بی مفرد نومونه چه‌په‌آخره کښې یې (میلنه ی) و ی نو د تغیر کو و نکو عواملوپه‌اثره (میلنه‌ی)په (معروفه‌ی) اوړی اودجمع په‌آخره کښې یې(ونه) زیاتیږی:

مفرد	تغییرشوی شکل	جمع
تی	تی	تیو نه
شی	شی	شیو نه(۱)
ځی	ځی	ځیو نه
چی	چی	چیو نه(۲)

۲ـ که د مفرد صفت په آخره کښې (معروفه‌ی)وی، نودجمع‌په‌صورت‌ددغه(ی) نه‌مخکښې توری حرکت‌له‌منځه‌ځی،دغه (ی)زورپیدا کوی‌اوپه‌آخره کښې‌یې (ان) زیاتیږی:

مفرد	جمع
شرابی	شرابیان
ربابی	ربابیان

(۱) دغسې نسبتی صفات که د بنیادم صفات وی، نو په جمع کښې یې‌دواړه‌صورته‌اسعمالیږی‌او که‌د نوروشیانو صفات‌وی‌نو یوازې‌په (معروفه‌ی) جمع کېږی‌لکه، کابلی خټکی‌ـ ننگرهاری گنی.(دښاغلی‌رښتین له‌گرامر څخه)

(۲) د(خوره یې) جمع (خو ر ه یو نه) هم راځی . (ب)

(۱)ـد(شی) جمع(شیان)هم‌راځی . (ب)

(۲)ـ(چی‌اوځی)د(چای‌اوځای) مخفف شکلو نه دی‌په‌اصلی‌شکلی یې‌جمع(ځایونه، چایونه) راځی . دکندهاو‌په‌لهجه‌د(چای)جمع‌په‌مونث‌شکل(چایې) راځی. (ب)

مفرد	جمع
قاضی	قاضیان
مفتی	مفتیان
غنی	غنیان
غبی	غبیان
ولی	ولیان
چلی	چلیان
موچی	موچیان
دوبی	دوبیان

نوټ : په ځینو صفاتو کښې چه د و رو ستی (معروفې ی) نه د مخه هم (ز یر لر ونکې ی) او ترهغې د مخه (الف) وی نو په جمع کښې یې هغه (زیر لرونکی ی) له منځه ځی :

مفرد	جمع
سودایی	سودایان
فدایی	فدا یان
نایی	نا یا ن
سپایی	سپایان
صحرایی	صحر ا یان

۳ ـ که د مفرد صفت په آخره کښې (الف) وی نو جمع یې دوه شکلونه لری:

الف : د پښتو القابو په آخره کښې (گان) ز یاتېږ ی:

مفرد	جمع
بابا	بابا گان
کاکا	کاکا گا ن
ماما	ماما گان
لالا	لالا گان
دادا	دادا گان

نوټ: د (میا) جمع هم (میا گان) راځی

ب: د نورو په آخره کښې (یان) زیاتېږی :

مفرد	جمع
پاچا	پاچا یا ن
ملا	ملا یا ن
مېرزا	مېرزایان
اشنا	اشنایان
بینا	بینایا ن

نوټ: د (جولا) جمع (جولایان) او (جولا گان) او د «اغا» جمع (اغایان) او (اغا گان) دواړه ویلی شی.

٤ـ که د مفرد نوم په آخره کښې معروف (و) وی نو جمع یې په دې صورتونو راځی :

الف: په جمع کښې یې (گان) زیاتېږ ی:

مفرد	جمع
چاکو	چاکو گان
میلو	میلو گان
آلو	آلو گان
بارخو	بارخو گان
سیلو	سیلو گا ن

ب: په جمع کښې یې (ان) زیاتیږی :

مفرد	جمع
کدو	کدوان
کندو	کندوان
هند و	هند و ان

ج: په جمع کښې یې (ان) او (ګان) د و ا ړ ه صو رته ر اځی:

مفرد	جمع	جمع
ټاپو	ټاپوان	ټاپو ګان
سادو	سادوان	سادو ګان

د: په جمع کښې یې (ان) زیاتیږی ، او (و) یې غورځی:

مفرد	جمع
کچالو	کچالان
شفتالو	شفتا لان
زردالو	زردالان

٥ـ که دمفرد صفت په اخره کښې (زور) وی نود جمع پـه اخره کښې یی (ګان) زیا تیږی:

مفرد	جمع
ساده	ساده ګان
شود ه	شوده ګان
بوده	بوده ګان
لود ه	لوده ګان
پیاد ه	پیاده ګان
هزار ه	هزاره ګان

مفرد	جمع
خانزاد ه	خانزاده ګان
بیچاره	بیچاره ګان
بنجاره	بنجاره ګان

٦ـ که د مفر د نوم او صفت په اخره کښې (زوره کی) وی نو جمع یې دوه صورته لری :

الف: په ا خره کښې (ونه) زیاتیږی او دمفرد وروستی زوره کی په (پیښس) سره بدلیږی:

مفرد	جمع
زړه	زړونه
پسه	پسونه
نیکه	نیکونه
تره	ترونه
مرغه	مرغونه(۱)

(۱) دخوشحال خان خټک په اشعارو کښې د «مرغه» جمع «مرغونه» راغلی . او اوس یې څوک نه وایی، خوشحال خان وایی :

یایې رنګ یایې او از د ځان بلاشی
څوک چه اچوی (مرغو نه) وقفس ته
چه (مرغونه) داسمان ساتی داکنار
دهوښیار دی دبیداردي خبردار
یکښې څرنګه هوښیار (مرغونه) بند دی
ستاد ور وخوخال دانه دهزلفې لومې
په هرځای چه طمع خپل هنرخرګندکا
دهرهو ښیار ماهی «مرغونه» طمع بندکا
په دستارنا مه کښې چه خان په نثر لیکلی دي، لیکی:
«مرغونه ،مارونه، ماهی وغیره ترمور ترملخ پخپل نتاج داحال لری .»
(دکابل مجلی د ۱۳۲۸ کال ۱۲ مه ګڼه. دښاغلی تبزی له مقالې څخه)

ب: په آخره کښې (ان) زیاتیږی او د مفرد زوره کی په زور بدلیږی:

مفرد	جمع
پسه	پسان
لېوه	لېوان
کارغه	کارغان
مرغه، مارغه	مرغان ، مارغان
و یښته	ویښتان

نوټ : په ځینو لهجو کښې د (نیکه) جمع (نیکه گان) هم راځی .

۷ـ که د ساکښو دوه حرفی مفرد نوم او یا صفت ورو ستی توری صحیح حرف وی او دغه نوم او صفت یو سلېبل ولری ، نو د جمع په صورت کښې ـ یی لومړی توری ساکن کېږی او وروستی توری په (زوره کی) سره خوځیږی:

مفرد	جمع
غل	غله(۱)
مل	مله«۲»
خر	خره
مړ	مړه
پړ	پړه

«۱» نوټ : د «غز» جمع «غزه» او «غزونه» راځی .

(۲) نوټ: د «غر» په کلمه باندې که تغییر کوونکی عوامل اثر وکړی نو «غره» ترې جوړېږی، لکه (زه «غره» ته خېژم) او جمع یې «غرونه» راځی .

۸ـ که د مفرد نوم او یا صفت وروستی توری صحیح ساکن توری وی او تر هغه د مخه معروف یا مجهول (و) وی، نو د جمع په صورت کښې د دغه (و) پر ځای (الف) راځی او تر هغه د مخه توری په (زور) سره خوځیږی وروستی ساکن توری هم (په زوره کی) خوځیږی :

معروف (و) والا

مفرد	جمع
پښتون	پښتانه

(۱) د خوشحال خان خټک په اشعارو کښې د (غل) جمع (غلونه) راغلی، لکه چه وایی:

ویښن لی اوسه خوشحاله مالیدلی دی ډېر غلونه
کور دواودوډوند کابیابیدارلره و ردر ومی -
(کابل مجله ـ دښاغلی تبزی مقاله)

(۲) ـ د (مل) جمع (ملونه) هم راځی ـ (ب)

شپون	شپانه (۱)
شکوڼ	شکاڼه (۲)
ستون	ستانه
کوڼ	کاڼه
روڼ	راڼه

مجهول (و) و الا

مفرد	جمع
سوړ	ساړه
موړ	ماړه
ووړ	واړه
زوړ	زاړه
سپور	سپاره
خپور	خپاره
سکور	سکاره
کوږ (کج)	کاږه
کوږ (کفتار)	کاږه (۳)
پروت	پراته
پوخ	پاخه
کوږووږ	کاږه واږه

(۱) نوټ: کله چه (و) ددوو وروستیو ساکنو تورو نه دمخه وی، هلته هم (و) په (الف) اوړی او وروستی توری په (زوره کی) خو ځیږی :

مفرد	جمع
دروند	درانده (۱)
لوند	لانده (۲)
ړوند	ړانده
پوست	پاسته
وروست	وراسته
څورب	څاربه

(۲) نوټ: په ځینو صفاتو کښې (و) له منځه نه ځی او د (الف) نه دمخه په (زور) خو ځیږی :

مفرد	جمع
خوږ	خواږه
سور	سواره
خور	خواره

(۳) نوټ: او کله بیا (الف) د (و) نه دمخه شی :

مفرد	جمع
تود	تاوده

(٤) نوټ: او کله (و) له منځه ځی او (الف) هم نه وی:

مفرد	جمع
سور	سره

(٥) نوټ: او کله (و) پاته وی او (الف) نه وی:

مفرد	جمع
اوږد	اوږده

(۱، ۲، ۳) ځینې قیایل د (شپون، شکوڼ، کوږ) جمع (شپنیان، شکڼیان، کاږیان) وایی.
(دښاغلی رښتین پښتو گرامر)

(۱) د تخفیف په صورت په اکثر و محاورو کښې «درانه» ویلی شی. (ب)
(۲) په اکثر و محاورو کښې «لامده» هم ویلی شی. (ب)

مفرد	جمع
اوم	اومه
زرغون	زرغونه

(٦) نوټ: ځینې نومونه دتغیر کوونکوعوا ملوپه‌اثر په‌پاسنی صورت سره تغییر کوی او د همد غه جمع شکل‌غوره کوی‌د جمع‌په‌حالت کښې‌یې‌بیاپه‌آخره کښې (ونه)راځی:

مفرد	دجمع‌په‌شکل‌تغییرشوی‌صورت	په‌جمله کښې	جمع
پتلون	پتلانه	د«پتلانه»په‌جیب کښې‌مې‌لاس‌واهه	پتلونونه، پتلنونه
ورون	ور انه	په«ورانه»باندې مې‌لاس ولګېد	ورونونه
پرتوګ	پرتاګه	د«پرتاګه» پیژې ارتې‌دی.	پرتوګونه،پرتګونه
نوم(نام)	نامه	دخدای‌په«نامه»	نومونه
نوم(ناف)	نامه	په‌شریعت کښې‌دنارینه ود«نامه»نه	نومونه
زنګون	ز نګانه	تر«زنګانه»پورې عورت‌دی.	زنګونه
کهول	کاله	زه«کاله»ته ځم	کهولونه
تنور	تناره	په «تناره» کښې ډوډی‌پخیږی.	تنورونه
ترموز	ترمازه	په «ترمازه» کښې‌یخی‌واچوه!	ترموزونه

(۷) نوټ: ځینی صفتونه‌شته چه‌دهغوور و ستی توری په (زور)یا (زوره کی)خوځیږی او دجمع‌په‌صورت په‌آخره کښې یې (انه) زیاتیږی،اودجمع‌پورتنی‌شکل‌غوره کوی:

مفرد	جمع
مېلمه	مېلمانه
کوربه	کوربا نه
خسبه	خسبانه
اوښبه	اوښبا نه
غوبه	غو بانه

(۸) نوټ: په‌ځینو صفتو نو کښې د و ر و ستی ساکن‌توری نه‌دمخه(معروفه‌ی)وی،دجمع په‌صورت کښې‌دغه(ی)له‌منځه‌ځی اووروستی توری‌په «زوره کی» سره خو ځیږ ی:

مفرد	جمع
شین	شنه
تریو	تروه
تریخ	ترخه (۱)
خیشت	خیشته

(۱)-دپښتو اومومندوپه لهجو کښې« تر ا خه» ویلی‌شی دخان‌عبدالاکبرخان‌اکبرد اشعا ر ود یو ا ن (خوازه‌تراخه)نومیږی .(ب)

(په‌خیشته کښی‌ی)،هم پاته‌ده دغه‌دی، لکه چه گورویې‌ددووتورو (یوسلېبل)نه دمخه‌ده

۹ـ دسا کښو اوبوټونومونه اوصفتو نه چه په آخره کښې‌یې صحیح‌توری، وی په جمع کښې‌یې(ان)زیاتېږی:

مفرد	جمع
انسان	انسا نان
اوښ	اوښان
چرگ	چرگان
اس	اسا ن (۱)
مار	ماران(۲)
گیدړ	گیدړان
غوز	غوزان
توت	توتان
گل	گلان(۳)
بلبل	بلبلان
ډاکټر	ډاکټران
ډریور	ډریوران
لیډر	لیډران

(۱)ـ د«اس» جمع «اسونه»هم‌راځی .(ب)

(۲)ـ دخوشحال‌خان خټک‌په «دستارنامه» کښې د«مار» جمع «مارونه »راغلی، لکه چه وایې، (مرغونه،مارونه،ماهی وغیره ترمور، ترملخ‌پخپل نتاج دا حال‌لری .)

(۳)ـ د«گل» جمع «گلونه»هم‌معمول‌دی. (ب)

مفرد	جمع
خادم	خادمان
کاکړ	کاکړان
شاعر	شاعران
حاکم	حاکمان
محکوم	محکومان
حکیم	حکیمان
لوی	لویان
سوی	سویان
پوی (پوه)	پویان(پوهان)

(۱)نوټ:په ځینو محاورو کښې‌دا نومونه‌هم په (ان) جمع شوی‌دی:

مفرد	جمع
سوك	سوکان
مټ	مټان
نوك	نوکان
څټ	څټان
لم	لمان
خنډ	خنډان

(۲)نوټ: «شونډه»مونث نوم‌دی ، جمع‌یې په ځینو محاورو کښې د مذکر په شکل «شونډان» استعمالېږی . (۱)

(۱)ـ دافغانستان دپښتو ټولنې د۱۳۲۱ه، ش کال‌په هغه غونډه کښې‌چه د(۲۵)تنولیکوالواوپوهانو په‌گډون شوې وه دافیصله شوې ده چه د(شونډې ، شونډان) په‌اختلافی شکل کښې دې‌یوازې(شونډې)ولیکلی‌شی . (دښاغلی الفت‌له لیکوالی څخه)

۳ نوټ: دخپلوانو ځینې الـقاب د «ونه» په زیاتېدو جمع شوی دی او ځینی اجزایې هم له منځه تلی یا اؤښتی وی:

مفرد	جمع	تغیر
ورور	ورونه ـ ورونه	(وروستی «ر» غوو زېدلې ده)
پلار	پلرونه	(«الف» غور زېدلی)
تربور	تربرونه	(«و» غورزېدلی) (۱)
وراره	ورېرونه	(«الف» په (ی) اؤښتی)
خوره یی	خوره یونه	(وروستی (ی) غورزېدلې ده)

(٤) نوټ: د «زوی» جمع «زامن» راځی. (۲)

(۵) نوټ: ځینی کلمات چه په (ان) سره یو ځل جمع شوی وی د بل (ان) سره دوهم ځل د پاره هم په (په ځینو محاورو کښې) جمع کېږی: (۳)

مفرد	(۱) جمع	(۲) جمع
غریب	غـریبان	غریبـانـان
بزرگ	بزرگان	بزرگانـان
مـلك	مـلـكان	ملكانـان

۱۰ـ دبی ساشیانو نومونه چه په پای کښې یې صحیح ساکن توری وی، او دتېرو قاعدو له مخه

---

(۱)ـ د «تربور» جمع «تربران» هم راځی. (ب)

(۲) مـلا خطات:

الف، ښاغلی «رښتین» د غه جمع خلاف القیاس بولی.

(ب)، په پښتو کښې د «زوم» جمع د قاعدې سره سم «زومان» راځی که د علت د تورولېز فرق ته ونه گورو تو «زامن» او «زومان» یو راز کیږی. په دې کښې غور په کار دی.

ج، ښاغلی «تېزی» پخپله مقاله کښې لیکلی:

(خوشحال ېاباد (زوی) د کلمی جمع چه اوستا یې ریشه یې (ZAN) سنسکریت یی (JATi) او بلوڅی یې (ZAYAG) ده، د (زویه) په بڼه لیکې نه د (زامن) په بڼه، مثلاً په لاندې بیتونو کښې:

نازپرور (زویه) می واړه په فریاد او په شغب شول

✲ ✲ ✲

هسې چارې کاستا (زویه) چه اتش شاهی بیگ هېر شول

د خوشحال خټك په سل (زویه) لمسی دی

لا لا یـق د خـا نی نـه و یـنم پـر

✲ ✲ ✲

دغه ډول د دې کلمې مفرده بڼه یی هم د (زویه) په بڼه لیکلی، لکه دا چه:

دسینا (زویه) له ځایه شیخ ملا و

اراسته نه شو په درس په خوانق

د: په ځینو لهجو کښې د (زوی) جمع (زو یـان) راځی.

ه: کله چه د (زوی) کلمه د خپلوانو او قومونو په نامه کښې د (زی) په شکل راشی، نو د (لومړی) قاعدې د (الف) برخی د (۲) ډلې په شکل یې جمع راځی:

مفرد	جمع	جمع
میرېزی = دمیرې زوی	میریزی	میرېزیان
بـن زی = دبنې زوی	بن زی	بن زیان
مـحمـد زی (قوم)	محمدزی	محمدزیان
اڅـکـز ی (»)	اڅـکـزی	اڅـکـزیـا ن

(۳) د پښتو ټولنې په هغه ټولنه کښې چه د لیك دود په باره کښې د افغانستان، پېښور او بلوچستان د لیکوالو او پوهانو له خوا د ۱۹۵۸ ع د اگست په ۲۷ په کابل کښې شوې ده، دا فیصله شوې ده چه په لیك کښې دې (بزرگانان ...) نه استعمالېږی.

(د ښاغلی الفت له لیکوالی څخه)

یې جمع نه وی شوی نوپه اخره کښې یې (ونه) زیاتېږی :

مفرد	جمع
کور	کورونه
ښار	ښارونه
لاس	لاسونه
مېز	مېزونه
درد	دردونه
سر	سرونه
فکر	فکرونه
پروګرام	پروګرامونه
کتاب	کتابونه
پلان	پلانونه
وزارت	وزارتونه
مطلب	مطلبونه
خوی	خویونه
ځای	ځایونه
لو	لوونه
غوبل	غوبلونه
واو	واوونه
پلاو	پلاوونه
نوم	نومونه
اولس	اولسونه
مخ	مخونه
اوربل	اوربلونه

(۱) نوټ: داصواتو هغه نومونه چه د «یوغږ» نه حکایت کوی د هغو جمع دپورتنی قاعدې له مخه کېږی :

مفرد	جمع
ږ	ږونه
درز	درزونه

او په کوم یو کښې چه داوازد تسلسل حکایت وی، هغه نه جمع کېږی لکه شرهار غنګهار،...

«۲» نوټ: د «۹» او «۱۰» قاعدې نومونه که چېری دیو نه پورته د عدد معدود وی نو «۱» دپورتنیو قاعدو سره سم د جمع په شکل هم راځی، او «۲» په اخره کښې یې زور هم پیدا کیږی:

مفرد - جمع د «۹» قاعدې سره		جمع د «زور» سره
اوښ	څلور اوښان	څلور اوښه
اس	پنځه اسان	پنځه اسه

جمع د «۱۰ قاعد» ی سره

کور	دوه کورونه	دوه کوره
دېوال	څلور دېوالونه	څلور دېواله

۱۱ـ ځینی داسی نومونه او صفتونه هم شته چه دوروستی نه مخکښی توری یی په (زور) خوزېږی او په جمع کښی د غه (زور) په (زوره کی) بدلېږی. په عین حال کښی دغه کلمات د نهمی اولسمې قاعدې سره سم هم جمع کېدی شی.

مفرد-جمع(دې قاعدی سره)-جمع(دهٔ قاعدې سره)

ملخ	ملخ	ملخان
کوډګر	کوډګر	کوډګران
بزګر	بزګر	بزګران

جمع د (۱۰) قاعدې سره

تویك	تویك	تویکونه
موټر	موټر	موټرونه
نارینه	نارینه	

۱۲-دجنس نومونه چه د تانیث نخښې پکښې نه وی دمذکر جمع ګڼل کیږی او په لیك اووینا کښې دهغه ترحکم لاندې راځی.

دد غو نومونو شکل په دوو ډولو دی :

الف : دمفرد نومونو په شکل وی اود جمع شکل یی نه وی:

لکه(غنم،لوکاټ، کوچ...)

ب: دجمع په شکل وی اودمفرد شکل یی نه وی:

لکه(وابنه،سابه، غوړی،رانجه...)

نوټ : د جنس هغه نومونه چه دمفرد مونث ، یاجمع مونث نخښه پکښې وی ، هغه د جمع مونث ترحکم لاندی راځی اوخپل مبحث پوری اړه لری:

۱۳- ټول مصدرونه پخپل شکل د جمع حکم لری،لکه:وهل،خوړل،لیکل او ...

۱٤ ځینی کلمات په مفرده بڼه د جمع معناور کوی،داهم دجمع حکم لری،لکه :

ډېر،زیات، ګڼ،ټول(۱)

۱۵(بل)دمفرددپاره او(نور)دجمع دپاره دی .

۱٦-ځینی صفتونه شته چه دمفرداوجمع دپاره یوراز استعمالیږی:

مفرد	جمع
تور(قلم)	تور(قلمونه)
سپین(کتاب)	سپین(کتابونه)
ودان(کور)	ودان(کورونه)(۲)

(۱)-داکلمه په ځینو لهجو کښې دمذکر اومونث دپاره «ټوله» ویلی شی.دپښتو ټولنی د۱۳۲۱ه،ش د جوزا د۲۱ نېټې (د۱۹٤۲ع جون)په هغه جرګه کښې چه دافغانستان(۲۵)تنو یوهانو اولیکوالو کړې د ۰۰ فیصله شوې ده چه په دې دواړو شکلونو کښې یوازې (ټول) دمذکر دپاره او(ټولې)دمونث دپاره و لیکل شی.

(لیکوالی)

(۲)-دا رنګه صفتونه غالباً دغه دی :

برګ، خړ، پټ، وچ، جګ، بد، ګڼ، لوړ، ډډ، غوړ، ښخ، تش، پخ، ارت، غوځ، جوړ، روغ، تور، بور، ګور، حوز، سپور، سپین، لوی، توی، چیت، ټیټ، هېر، تېر، زړې، پېړ، ټینګ، تیت، ویښ او نور،

اوداهم دغسی دی :

بنه، ویده، غوره، خپه، تکړه، ښکاره، ډاډه، سیانه، بیکاره، چنیا، خوسا، لاهو، ساهو،

او هغه ټول مرکب صفتونه چه د نسبتی(من، وال)او (بخن، مار، ور، جن، ن، ناك)د لاحقو د یوځای کیدو په صورت جوړ شوی وی لکه، کامه وال، تور بخن، دولت من، ډوډی مار،.... د ساکښو ځینی مرکب صفتونه جمع کیږی خو موصوف ورسره نه ذکر کیږی لکه داړه ماران، ګاډیوانان، اندیوالان اونور ...

(دښاغلی رښتین له پښتو ګرامر څخه)

مفرد	جمع
ړنګ دېوال	ړنګ دېوالونه
هسك بام	هسك بامونه
لنډ کمیس	لنډ کمیسونه

۱۷ـ خاص نوم په ځینو خاصو وختونو کښې جمع کېدی شی، هغه دادی چه تر یو حکم لاندې څو تنه راشی او یا څو تنه په یوه نامه وی لکه:

خو شحا لا او د و لتا مې غلامان دی
زه رحمان په پښتوژبه عالمگیریم (۱)

✲ ✲ ✲

زمونږ په هېواد کښې ډېر میرویسان او محمودان تېر شوی.

✲ ✲

ـ حسن راغلی ؟
ـ کوم حسن ؟
دلته خوددوه «حسنان» کار کوی :
یو «حسن کاکړ» بل «حسن ساپی»

✲ ✲ ✲

ـ انور به چېرته وی ؟
ـ کوم انور؟
زمونږ په کلی کښې «درې انوران» شته، یو زما د کاکا زوی، بل د عمر زوی او بل د غلام زوی.

✲ ✲ ✲

ـ «رشاد» چېرته کار کوی ؟
ـ زه دوه «رشادان» پېژنم
یو «کندهاری رشاد» او بل «مولانا رشاد»

یادونه:

ددې څېړنې په لیکلو کښې د خپلې مطالعې او استقراءنه سر بېره له دغو اثارو نه هم استفاده شوې ده:

د پښتو د ژبې لیاره ـ ښاغلی محمد گل مومند
پښتو گرامر ـ « رښتین
لیکوالی « الفت
کابل مجله (د ۱۳۳۸ کال ۱۲ مه گڼه) د ښاغلی تزی مقاله
هیله لرم چه گران لوستونکی زما نواقصو ته گوته و نیسی.

(۱) خو مره چاپی نسخې چه زما له نظره تېرې شوی دی په هغو کښې یې (خوشحالا او دولتا) لیکلی، ښایی چه دا به د کوم ناسخ سهو وی او دغه عبارت (خوشحالان او دولتان) وی، د پښتو جمع په قاعدو او د پښتنو په لهجو او محاورو کښې د (خوشحالا او دولتا) په شکل بل مثال ما ته نه دی معلوم . (ب)

دایس، پی تولستوف لیکنه
دعبدالشکور شاد ترجمه اولنډیز

په خوارزم کښې دلرغون پېژندونکو دلټون نتیجې (۱)

۱۹۵۱م کال هغه کال دی چه زموږ هیأت بیا په خپل کارلاس پوری کړ، دا کار څنګه چه معلومه ده په ۱۹۳۷م کال دو همه پلا شروع شوی ؤ.

دغه لټون دهغو اجتماعی ودانیو اورغا وړو لټون او څېړنه وه چه په منځنۍ آسیا کښې داسلام تر راتګ پخوا باب اوموجود ؤو ـ

دمنځنۍ آسیا په څوسیمو کښې دد غه لټون اوڅېړنی چاری تر عمومی جنګ دمخه اووروسته زموږ په هیأت پورې اړه درلوده اوسر بیره پردې نوری لرغون پېژندونکی ډلی هم دمنځنۍ آسیا په نورو برخو کښې پخپل لټون بوختې وې.

دالټون چه ددرست شوروی اتحاد دخلکو په تېره بیا دمنځنۍ آسیا دځوانو جمهوریتو له تاریخ لیکلو سره اړیکې لری د ۱۹۳۰م کال په اواسطو کښې ورسره موږ مخامخ شوو. دمنځنۍ آسیا خلکو لوړی ترقی اوخاص مد نیتونه را پیدا کړی دی مګر سره ددې یې هم دپخوانیو زمانو تاریخ د تحریری منابعو له در که ډېر غریب واو دهغو مدنیتونو داجتماعی اواقتصادی وضعیتو خصوصیات په دو مره تیاره کښې پراته ووچه ځینو پوهانو ګمان کاوه. هغه اجتماعی وضعیت چه اقلاً دهخامنشیانو له دورې څخه په دې مځکه کښې راشروع شوېدی، بیا یې دلته هیڅ دتوجه وړ بدلون نه دی کړی.

مګر هغو زیاتو مواد وچه دلټون په اثر زموږ هیأت ته پلاس ورغلل د ۱۹٤۰م کال پای ته موږ ددې وړو ګرزولو چه ددې مسألې حل ترغورلاندی ونیسو ـ هغه ؤ چه دامواد په وروستیو څو کلونو کښې دمونوګرافو او کوچنیو یـکـاړو په

(۱) دامقاله چه په JOURNAL OF ASIATIC SOCITY OF BOMBAY کښې تر دی عنوان لاندی خپره شو یده :

RESULT OF THE WORK OF THE KHORESMIAN ARCHAEOLCGICAL AND ETNOGRAPHIC EXPEDITION OF THE USSR ACADEMY OF SCIENCES 1951 1956

دېره اوزده مقاله ده اودیوې رـاڼې حکم لری مایوالحی هغه برخی دلټه ځینی راواخستلې چه په ژبنیو څېړنو یادپښتو نخوا په تاریخ پوری اړه لری اودکابل مجلی له مسلکه سره مطا بقی دی

صورت په اوزبکستان، تاجکستان، ترکمنستان اوسربېره پردې په مسکو اونینن ګراډ کښې خپاره شول.

دغومواد اساسي ټکي په لاس راکړل چه دمنځنۍ آسیا دخلکو پخوانی تاریخ دتکامل اوترقۍ هغه اوږده لار وهلې ده چه دلرغونو زمانود مړې توب له سیستمه راشروع کېږي دې سیستم دقبل المیلاد له اوو مې پېړۍ څخه تر پنځمې میلادي پېړۍ پورې پایښت کړی او بیا دیوه ژور سیاسي بحران په اغېزه د قرون وسطی هغه فیوډال سیستم پخپله وده شروع کړې ده چه تراوسنیو وختو یعنی دنولسمې پېړۍ ترپایه پورې پر منځنۍ آسیا مسلط ؤ ...

توپرك کلا :

په ۱۹٤۵ـ۱۹۵۰م کال موږ دخپل لټون مخه دخوارزم دارغونو اوقابل الذکر و کنډوالو خواته وګرزوله او دتوپرك کلا TOPRAK-KALA دکنډواله ښارپه تېره بیا دخوارزمشاه د پاچهۍ ماڼۍ په کیندلو مولاس پورې کړ ـ دغه پاچاهي ماڼۍ چه ددولسمې میلادي پېړۍ ته منسوبه ده دکیندنې کاریې په ۱۹۵۰م کال کښې پای ته ورسېد.

دابرمالۍ ماڼۍ چه اتیا متره پسوراواتیا متره اوږده اړی او دچا پېر له سطحې څخه دپنځه و یشتو متروا په جګواله درې غټ غټ څلی هم پکښې شته دلرغونی خوارزم دکلچر ډېر دلیدلووړ شیان یې خوندی کړی دی موږ به اوس په خاص ډول سره دهغو دالانود کشفیاتو په باب وږ غېږ وچه دنقاشۍ اوبرجسته کارۍ صفت یې اغلباً دګند هارا د مستظرفه صنایعو مکتب ته منسوب دی.

دادالانونه چه د دیوالو په خټه کښې ئې حیرانوونکی برجسته کارۍ او نقاشۍ لیدلی کېږي په دې نو مونو پېژندل شوی دی :

د پاچا دالان

د بری دالان

دګوزن دالان

د نخا دپردو دالان

ګردی دالان

دخرمایی پوستو سر اوسو دالان

حرمسرای اونور ...

په دغو دالانو کښې یو شمېر وسلې لکه لیندی، غشی او دمانۍ دتعمیراتی خصوصیاتو بقایا په ډېره ښه توګه سره خوندی پاته شوی دی ـ مګر له بده مرغه هغه لیکلی اسناد چه پردې او خرمنو باندی لیکلی شوی او شمېرې نژدې سلو ته رسېږی بېخی ټوکرټو کراو ټوټې شوی دی دالیکنی چه دیوه خوشخط او ماهر منشی

په لاس په لرغونی آرامی الفبا لیکلی شوی دی دهغه قلمی اسناد وله رسم الخط سره مشابهت لری چه پر پوستکو او کودړو باندی کښل شوی اوله نیسا NiSA څخه لاس ته راغلی دی .

د لته په مقد ماتی تو گه سره ددغو اسنادو لوستل داسی سپړل شوی دی :

۱- BW/ZM' T/SRE
۲- T/SRK
۳- B/P(؟)W/ZG(؟)RD/(؟)KY,ZT/M
٤- B/P(؟)W/ZG(؟),ZT/M
۵- «و» (یوه بیله نغشه)
٦- D/KBRN,
۷- M,MK
۸- RWM,ZTK
۹- D,DNSK
۱۰- ,BRM/TZK--K
۱۱- ,W(؟)BNW(؟)SM/TK
۱۲- ,RT/SW-K
۱۳- GZ/WRNK
۱٤- M(؟)W/Z(؟)R/DR(؟)-R/ZK
۱۵- M'MK
۱٦- R,SR/DKW/ZK
۱۷- «و» (یوه بیله نغښه)
۱۸- D/KBRN,ZK,W/ZR/D-H/Q
۱۹- RKM(؟)W(؟),NK
۲۰- MRS K

داعبارتو نه چه زیاتره پر دړو باندی کښل شوی دی فقط د خلکو او مسکو نو یا مفتو حوسیمو یوشمېر اصلی نومو نه دی د دی نومو نوشاوندی (SUFFiX) عموماً «K» دی چه د ایرانی نومو نوشاوندی باله نشی- ځینی نومو نه صریحاً ایرانی ریښی لری لکه اتم نوم RWM,ZTK چه په منځنی خوارزمی ژبه کښې RUMASHDAK یعنی اور مزد ORMUZD ځنی جوړ شوی دی او یا لکه د ولسم نوم... RTMW(۱) یو داسی واقعی ایرانی نوم دی چه په ARTA ئې شروع کېږ ی او نهم DADANSHAK- دیار لسم GURNAK شلم MARSHABAK او نو ر ...

دزیاترو دړو د عبار تو نو په شر و ع کښی دلومړی لیکی(۲) اول توری تکرار شوی دی او د غه راز ډ پر ځله د درېیمی ، څلر می اوشپږ می لیکی وروستی توری او د ا تلسمی لیکی لومړی او دوهم توری مکرر راغلی دی

په دې کښی شك نشته چه د اتوری آرامی لیك نخښی(۳) دی او ZK- یو اشارې (یا صفتی؟) ضمیر دی.

دا تلسمی لیکی د د رېیمی کلمې ور وستی نخښه هم د بیا غوروړ او مختلف فیهاد ه یعنی

(۱) دا نوم د مخه RTSW-K، ضبط دی ا ودلته بیا RTMW, راغلی دی (؟)

(۲) لیکه = کر ښه

(۳) IDEOGRAM دلته په لیك نخښه ترجمه شوی دی اصلاً آیدیوگرام هغه نخښی او رمزونه دی چه د تورو پر ځای استعمالیږی.

(دانشوویلای) چەدانخښهH ده کهQ ؟ (۳)

که دا توری له دغه حا له څخه چه دلته ښوول شویدی واوړی نوپه ځینو رسم الخطو کښې اتلسمەلیکه ګرده ورسره‌اوړی اوداهم څر ګنده‌خبره ده‌چه د داسی ا بتدایی او قابل التغییروقاعدوله‌پاره دبیاغوراوتغییرلاری سته د لومړ ی لیکی د BZMیاBWM کلمې په باب منا سبه داده چه په لومړی تحلیل دBZ لەریښې‌سره‌اړیکې ولری چەدمالیې‌اوخراج یا دمالیې‌اوخراج‌دوضعی‌اوانتظام پەمعنی‌دی-اوپه دوهم‌تحلیل باید دBWMله کلمې سره‌اړیکی ولری‌چەدمحکی-ملك‌اوسیمی معنی‌لری.

دادوهم‌تحلیل‌ماته‌دزیات تحقیق‌وړ ښکاری اوزماپەخیال‌امکان‌لری‌چه B توری‌له‌له‌اصلی ریښې څخه‌نه وی او دیوې زائدی لیك نخښی پەتو که د(په)یا(پر)په معنی مخی ته وراچول شوی وی- پەدی‌صورت کښی ئې‌نوپاته برخه ZMچەمجرده‌ریښه‌ئې‌بللای شوښایی دځمکې ، ملك اوسیمی‌معنی‌ولری‌دلومړی لیکی دوهمه کلمه او د دوهمی لیکی فقط یواځنی کلمه د آی ، ایم د یا کونوف په خیال باید HRK ولوستله شی چه دخراج‌معنی‌ولری.

(۳)داوروستی توری‌فقط یواځی په آرامی لیك نخښوکښی موندل کیدای شی مګرله‌دغه حالته سره مناسبت نلری

په‌هر صورت دا نظریه له واقعیته سره څه تناقص لری ولی چەدغه کلمه‌په هیڅ یوه بله دړه کښی بیا نه ده لیدلې شوې -زماپەخیال دایوعلم (اسم ذ اتدی) .....؟

ددرېیمی اوڅلرمی لیکی ور و ستی‌توری‌ء (چه دنورو لکینو په بیاو بیلو کر ښو کښې اوښتی دی) ډېر تار یك ښکاری که دا توری M وبولونوباید چەد کلمې دسرالف/ / یو مخ وندیPRFFIXو ګڼل‌شی‌اوله Z څخه‌دځمکی اوسمیی معنی واخیستله‌شی‌زما پەخیال امکان لری چه دا وروستی تو ر ی‌ء T ولو ستل شی (دهغی خپری‌شوی‌لیکنی چه پرڅرمن باندی لیکلې‌شوېده دلوړی کلمیBSNTدوروستی تو ری T مقایسه‌دی ورسره و کړله‌شی)په دې صورت کښی به نو له د غی کلمې څخه‌یو مشهوره کلمه ا زا ت AZAT جو ړ ه شی چه دخپلواکی او آزادی معنی لری

دشپږمی کرښی یواځنی کلمه‌اود اتلسمی کر ښی لومړی کلمه یوه‌نه یوه آرامی لیك نخښه KBRده چه دمشر - حاکم- یا دا یرانی کلمې‌دبیرDEBiRیعنی‌منشی‌معنی‌لری اوداهم کیدای‌شی‌چه‌له‌مشهوری کلمیRBK څخه‌دی‌وی (RBK کلمه دسغد ی لیك نخښی« RB»اویوه شاوندی «K »څخه جوړه شوې ده)چه دلوی

او تعظیماً دمشر او حاکم معنی لری - آی - ایم دیاکونوف I.M.DYAKONOV اووی ، اې لیوشتز V.A.LiOSHiTZ له دې کلمې څخه د دبیر معنی نه اخلی بلکه یو ه مختلف فیها او دبیا غوروړ کلمه DWR ئې بولی او دپاچاهی انګړ معنی ځنی اخلی .

په هر صورت په دو هم تحلیل کښې د B توری دبحث وړ ښکاری. زه غو اړ م د N تو ری چه ددغو کلمو په پا ی کښې ر ا غلی د ی هغه شاوندی و ګڼم چه دجمعی له پاره په منځنی خوارزمی ژبه کښې مشهوردی مادلنه د مهمو موضوعاتو مختلف فیها او دغوروړ اړخونه وڅیړل زه په دې لار کښې ددغو اظهاراتو (دتائید) له پاره دقلمی متونو دعمومی تر کیبونو حقیقی او فرض (شواهد) وړاندی کولای شم.

که ددغو عبارتونو د مطلبونو دفهم او درك له پاره زموږ کوښښ صیحح وی نو داد سیمه ایزو تشکیلا تو د ځینو مأمورینو دنو مو یولست دی یا د ځینو مسکونو یا مفتو حو سیمو نامنویس دی چه دغه کسان به ئی حا کمان ؤ داهم کیدای شی چه دغه لستونه دی یو ه داسی خد ماتو پوری اړه ولری چه د خلکو تر نو مو وروسته په لومړی او دوهمه کرښه کښې ذکر شوی دی که دالستونه دمالیو او خراج دانتظام لستونه وی نو بیامناسبه داده چه په دې صورت کښې د لومړی کلمې ریښه BZ و ګڼو او DBRN کلمې ریښه دسغدی ژبې مشهوره کلمه DABAR و بولو چه دور کو لو معنی لری - په منځنی خوارزمی ژبه کښې په دغه معنی یو فعل HiBR هم لر و تر ټولو د ډېر ی دلچسپی خبره داده چه پر څر من با ند ی په لکل شوو ځینو سندونو کښې نېټه هم موندلې شوې ده (۱)

دا تاریخ نو یسی صر یحاً د هندو ستانی کرونولوژی پر هغه سیستم ترتیب شوې ده چه شاکاسرا SHAKA SRA یې بولی او دزیاترو پوهانو په خیال د کوشانی پاچا کانشکا په وسیله

(۱) برخرمن باند ی د لیکل شوی - ند خپرې شوی توټې داسی لوستلی شوی دی

لومړی کرښه : BSNT IIC XX(X)۱
دوهمه « RS(؟) NY BRZDT'TN۱
دریمه « MN -...د(؟)R(؟)Z:
څلرمه « : SX(؟) -...
پنځمه « :

ددغه سندخوندي برخه داسی ترجمه کیدای شی:
لومړی ایکه: په ۲۳۱ کال
دوهمه « : (؟)
BARAZDAT یو صفی ایرا نی نوم دی چه د VARASDAT په بڼه کې موندلای شو - په تېره بیا په ارمنی سلطنتی نومونه کښې
دریمه کرښه: له.
څلرمه: « :
پنځمه: « :

منځ ته راوستل شوې ده او زموږ د معلوماتو سره سم خوارزم د منځنۍ آسیا د هندوستانی کوشانیانو (۱) د ستری ټولواکۍ له خوا نیول شوی هم ؤ (۲)

دا کار په ۱۹۵۰ کال پای ته ورسېد او د توپرك کلاد پلټنی لومړې برخه بشپړه شوله.

کوی کریلگان کلا: (۱)

نور هغه ځایونه چه د کیندنو په نتیجه کښې ئې د معمارۍ د تاریخ له پاره د لرغونو سبکونه زیات مواد په لاس را کړل دادی:

۱- د کلالی گیر KALALY -GYR د ښار دیوال ودانۍ او ماڼۍ چه د قبل المیلاد له څلورمی او پنځمی صدی له حدود څخه را شروع کېږی

۲- کوی کریلگان کلا KOY-KRYLGAN-KALA چه د قبل المیلاد له څلرمی او دریمی صدی له حدود څخه را شروع کیږی

د کوی گریلگان کلا کنډواله یوه څلیء غوندی اسطوانهٔ ودانۍ ده چه قطر ئې ۲٤ متره پلن والی لری او د ارتفاع خوندی برخه ئی د خپل چاپیر له سطحی څخه اته متره جگه ده یر دغه ودانی باندی له د باندی خوا څخه یو گردی دیوال را څرخېدلی دی چه د دغه دائروی دیوال قطر کی پنځه ایتانیم متره پلن دی او ۹ بر جونه لری د دغه دیوال غولی هغو بیشمارو خونو نیولی دی چه گوښی گرښی عمرانی اشکال لری - او گمان کېږی چه په دغو خونو کښی به مریانو او نوکرانو استوگه کوله. منځنۍ استوانه بېخی بیل خصوصیات لری ودانۍ دوه پوړه ده - مځکنی پوړ ئی خوندی پاته دی او د دغه خوندی پوړ درستی خونی یو راز نقشه او ترکیب لری - پند دېوالونه او غبرگ شیشکونه ئې له خښتو جوړ شوی دی - د دغه ځمکنی پوړ د خونو دروازې خارجی دهلیز ته را خلاصی دی.

منځنی گردی (قوسی) تالار د هغه متقاطع دیوال په وسیله سره وېشل شوی دی چه د لاری په شکل له غربه څخه شرق ته د ټولی ماڼۍ قطر تشکیلوی - د دغه منځنی گردی تالار په

(۱) په داسی حال کښی چه کوشانیان نسلاً یوچی ته منسوبېږی او د دوبی پایتخت ئې د کابل بگرام او دژمی پایتخت ئی پېښور ؤ نو بیا کوشانیان ډیر هندوستانی بلل د تأمل وړ خیره ده (مترجم)

(۲) هغه دری سندونه چه نېټې لری له I-G۲۰۷ څخه تر I-G۲۳۱ پوری سنه ورځینی په لاس را ځی که ئې موږ له «ساکاسرا» سره مطابقت راولونو د میلادی سنی له ۲۸۵ څخه تر ۳۰۹ م پوری کلونه ځی را وزی.

«۳» دا برخه د نوموړی مقالې د کتابی شکل په دیر لسم مخ کښی شروع شوېده تر دې برخی د مخه د آمو پر پخواتی بهېدنځی باندی مفصل بحث شویدی چه هغه برخه ئې په ترجمه کښی حذف شوې ده

دواړو سرونو کښی دوهم پوړته ځینې (پوړی) ختلی دی دا ځینې هغه برنډې ته ورخلاصیږی چه رواقونه ئې د ماڼۍ پرچار پېر را گرزېدلی دی-داسی معلومېږی چه په لومړنی ساختمان کښی دهغو ځینو (پوړیو) لارچه دتالار په غربی څنډه کی دوهم پوړته ختلی دی په خښتو تړلې شو یده -

شپږ ضلعی (سدسه) خونه چه منځنی گردی تالارته لار لری د دائری پرو تر باندی د منځنی تالار دواړو خواوته ودانه شوېده تر ټولو زیات ددلچسپی وړ هغه کړ کی دی چه د مخکښې پوړ په خونو کښی د لرغونی زمانې عمرانی تزئین طرز ښیی

دا کړ کی بیله هغو شیشکا نو څخه چه شمال ته مخامخ دی دهغه باندی دیوال په نورو ټولو شیشکانو کښی کیند ل شو ی چه شپږ متره سپور لری دا کړ کی په داسی ډول مخ پر کښته ایربی جوړی شوی چه د خونو له دننه څخه سړی اسمان لیدلای شی او هم له دغو کړ کیو څخه ښه رڼا خونو ته ورلوېږی- دطبقه شناسی له مخی ددې برمیالی ماڼۍ تجزیې موږ ته دا ثابته کړ ېده چه بېله شیشك لرونکی برنډې او منځنی دیوال څخه د نوری منځنی ماڼۍ ژوند دلومړنی KANG-Kû په زمانه پوری اړه لری او ددغی ماڼۍ دتادای ایښودل هم په دغه زما نه پوری متعلق ښکاری .

درې ماڼۍ پر چارپېر را گرزېدلی د باند نی خونی تقریباً څلور پېړۍ ودانۍ وې او عمرئی تر لومړ ی میلادی قرنه پوری یعنی تر هغه وخته پوری چه رازیږی کوشانی ستر واکمنی لاپر خوارزم استیلاء نه وه کړې .

دمنځنی برج په باب موږ یې له شاڅخه گمان کووچه دادمړو دجنازې (۱) اویادستورودعبادت له پاره جوړ کړ شوی دی او په ابتداء کښی فقط یو دائروی دیوال پر را گرزېدلی ؤ چه د توپو د ایښؤولو له پاره ئې شیشکی کړ کی درلودلې او د معمارۍ داطرز عموماً دڅلورمی او دریمې قبل المیلاد پېړیو په کنډوالی کښی موندل کېږی چه زیاتره دتاریخ دتعین له پاره د یوه خاص عامل په څېر کار ځنی اخیسته شی .

په وروسته کښی بیا دغه دیوال سر ترپایه ترمیم شوی دی- اوپه دغه کښی بیا مختلفی تحویلخانې دیوال ته رانژد ې کړه شوی دی او هغه گر دی غولی چه پر د غه اسطو انهٔ ماڼۍ را گرزېدلی ؤ لاپسی ارت کړشوی دی

(۱) د زردشت پیروان خپل مړی پر یوه لوړ برج باندی زدی چه مرغان یې وخوری (مترجم)

دفقید KANG-KU په زمانه کښې د دباندنۍ دائرې ټولی برخی نویوودانیوینولی اودتقسیماتو له پاره ئی داسطوانهٔ مانی پرچار پېریو دهلېز ودان شوی ؤ ـ داوسېدلو خونی گد امونه او ورکشاپونه دساده د ېوالوپه وا سطه سره پرڅوشعاعی قطاعو(۱) وېشل شوی و .

ټول هغه شیان چه موږ په دغو کیند نو کښی موندلی دی جزء وار تفصیل ئی نشو درکولای ـ البته د هغو څوشیانو په باب به وږغېږو چه بېخی دلچسپو شیانو کښی بباتر ټولو دمخه هغه یوه کوچنۍ لیکنه سپړو چه په ۱۹۵۱ ع کال د کوی کریگا ن کلا دد باندنی گردی غولی په یوه خونه کښې موندل شوې ده دالیکنه چه دشرابو دذخیرې دیوه غټ لوښی پرڅنډه کیندلی شوې ده نه یواځی دخوارزم په گردو مشهرو او کشف شویو لیکنو کښی پخوانۍ ده بلکه په دې کښی هیڅ شك نشته چه دمنځنۍ آشیا په ټولو تراوسه کشف شو یو لیکنو کښی لرغون توب اوقدامت لری دالیکنه په ړومبنی آرامی لیك دودخور اصافه کښلې شوی ده اولوست ئی هم آسان دی ـ ددغی لیکنی دتوروږ غونه په لاتینی رسم الخط داسی راځی .

(ASPABADAK) یا (ASPABARAK)
= « SPBR / DK»

دا کلمه بشکه یوه لرغونې ایرانۍ کلمه ده دلفظ ریښه او شاوندی ئی دواړه ایرانی دی ترجمه ئی داسی کېد لاشی :

« دآس سپور » یا « دآس پرشانا ست » (؟)

په دواړو صورتو کښی دا یواسم ذات دی اوقیاس ته نژدی داده چه دا به ددغه لوښی د خاوند نوم وی .

سر بېره پر دې لیکنی موږ درې لیکنی نوری هم موندلی دی چه پر لوښو باندی لیکلی شوی دی اویوه ئی دښځی دبت پرشا کیندلې شوې ده موږ تراوسه پوری ددغو لیکنو او دهغو اسنادو په حل بو خت یو چه په خوارزم کښی در یمی میلادی پیړۍ او په نیسا کښی لومړۍ قبل المیلاد پیړۍ ته منسوب دی ـ ددوهمی او دریمی قبل المیلاد پېړیو دغو لیکنو دمنځنی آسیا دلرغونی تا ریخ په لیکنه کښی یو گړندی توب منځ ته راوستلی دی .

(۱) هند سی اصطلاح

سعدالدین شپون

دفضاملېمه

هرموفقیت چه دمځکې په سرد بشرپه برخه کېږی ټولې علمی ټولنې پرې خوښیږی البته زموږ دنړۍ هیوادونه دومره په خپلو مینځو کښی سره لوېدلی دی چه دظاهر بین په ستر ګو ننني دنیایوې تلی ته ورته ده چه دوې پلې لری او هره یوه پله چه درندیږی هغه بله پله سپکېږی .

دداسې قضاوتو محکه پخپله زموږ تنګنظر ی ده، موږ داقضاوت ددې دپاره کوو چه پخپله هم ځان په یوې پلی کښی کښینوو، نو که ها بله خوادرندیږی موږ په کښې خپل سپکاوی ګو رو او نه یی تقدیروو.

خوزما په نظر داقضاوت واقعی نه دی بلکه یواځی یوسرسری قضاوت دی یعنی موږ دشخص یادبلاك دګټې له نظره حکم کوو په داسی موارد و کښې هغه وخت موږ یو واقعی قضاوت کولی شو چه خپل وزن په تله کښې وانه چوو یعنی دترازوو ان اوتولګر په نظر ورته و ګورودغه وخت دی چه هر څه چه دتلې په هره پله کښې لویږی مو ږ یې په درندوالی پو هیږ و .

همداسی هم علمی موفقیتونه دسیاسی مفاد اونقص په محك سنجول اوبیایې تقدیرو ل ا و یاانتقادپرې کول د عالمانو کارنه دی کله چه بشرته یوه علمی کامیابی ورپه بر خه کیږ ی نو ګویاز موږ نړۍ وال یو ګام پرمخ ځی اودا دبشری کورنۍ دهر فرددپاره یو افتخارد ی .

یه تیره بیاچه ددې کرې انسان فضایی مسافرت کوی اودنوروستورو په طرف روانیږی .

دمریخ د کرې اوسیدونکی له خپلور صدخانو نه فضایی بېړۍ ګوری چه ددوی دستوری خواته ورروانه ده ټول خلك له کورور اوځی اوددې عجیب مېلمه په انتظارولاړدی .

یوبل ته وایی «داڅوك دی چه راځی ؟ »

هابل ځواب ور کوی «هغه دی را پلی شو ، زه خویی نه پیژ نم» دریم ملګری چه لږ عالم ښکاری سرښوروی اودعینکوله سر نه ورته ګوری و ا یی «اوهو! څنګه په خیال راروان دی لکه چه د کوم ګاونډی ستوری مخلوق دی. »

دامکالمه تر هغی چه ماوا و ر ېده د رو سی ، امریکایی اوافغان کلمه په کښې نه وه .

په آخری تحلیل یواځې یوور کوټی ستوری دی چه په بل ستوری کښې خپل یو مخلوق پلی کوی دا افتخار چاته رسیږی؟ زما په خیال ددې

ور کوټی ستوری ټولواوسید ونکو ته دا کا ر چا کړی؟ددې ستوری اوسیدنکو .

کوزددې ماجراجوی ستوری دیوی کارنامې قصه ده چه نـورونړۍ والوته وړاند ې کیږی.

د۱۹٦۱ کال داګست په شپږمه نېټه د مسکو په وخت دسهار په نهو بجو دشوروی اتحاد په خاوره کښی ددویم واستوك په نامه یوه فضا یی بیړ ۍ دمځکې مدارته وتوغوله شوه په دې بیړۍ کښې دشوروی اتحاددویم فضایی مسافر هرمان تیتوف سپورو.

دویم واستوك پینځه ویشت ساعته اوا تلس دقیقی په فضا کښې واوپه دغه وقعه کښې اولس وارې دمځکی نه چارچارپیر تاوشو .

کله چه دغی بیړۍ خپله هغه تحقیقاتی وظیفه چه دشوروی پوهانو له خواور کړ شو ې وه ترسره کړه نوپه هغه ټاکل شوی ځای کښې چه ترده پخوادشوروی لومړی فضانور دا نسان یوری ګاګارین کښته شوی ور ا کو زه شوه ا و پیلوټ تیتوف یې روغ رمټ له مینځه راووت.

دالوتنې هدفونه:دابې سارې ا لوتنه د دې لاندې هدفودوصول دپاره اجراء شوه:ا ـ انسان څومره وخت په فضا کښې د حرکت په حا ل کښې پاتې کیدای شی؟دانسان عضویـت څـه عکس العمل ښکاره کوی؟

۲ـ انسان دبې وزنۍ په حالت کښی تر کومې اندازې کاراوفعالیت ته ادامه ور کولای شی دسپوږ مۍ په لور:دشوروی داا بتکار په علمی اصطلاح دسپوږمی او نورونژ د ی ستو روپه لور یو مهم ګام دی. باید پوه شو چه د فضائی مسافرا نو به یوه خاصه تل ملګری وی اوهغه دبې وزنی حالت دی . هو څو مره چه مونږ دځمکې له سر نه لرې کیږو د جاذ بې طا قت لګیږی او په هغه مدار چه تیتوف یون کاوه نوده خپل وزن بیخی دلاسه ور کړی وو لکه وړۍ داسې سپك و دبشر د بلندپروازیودعملی کولو د پار ه با ید لو مړ ی شر ا یط داسې مهیاشی چه اوږ ده موده بې وز نې دا نسا ن فعالیت سلب نکړی اوچه یووارانسان دخارجی فضاد بې وزنی سره عادی شی نو کله چه بیرته را کوز یږی اود وزن سره ا شنا کېږ ی د ده په عضویت ناوړه تاثیر ونه کوی .

دا معلو ما ت تر هغې چه په تجر بې تو ګه حاصل نشی واقعی ارزښت نلری نو بایدانسان یوه او ږده موده په فضا کښی وساتل شی او بیرته را کښته کړی شی .

دانسان دمسافرت لپاره لویه بیړۍ پکارده اودلویې بیړ ۍ د توغو لولپاره قوی توغند ی لازم دی چه شوروی اتحاد داسی را کټ لری.

د مثال د پاره باید و وایو چه یوه الوتکه په زرها وا .ق «داس قوه» لری .جټ الو تکه له لس زرو زیات ..قا .ق . لری خود د و یم آوستوك بیړۍ د توغولورا کټ شل ملیون ـ ۱ـق ـ لری .

حفاظتی چارې

د بیړۍ پرزی ، ماشینو نه د کنترول آلی اودمخا برې سیستم په څوواره ترډ یر و سختو شرا یطو لاندې بیا بیاوازمویل شول اودپیلوټ دحفاظت دپاره بشپړ تر تیبات و نیو ل شو ل انسا ن تر هرشی زیات ارزښت لری.یوه لویه مشکله په دی برخه کښی دا وه چه کله چه بیړۍ بیرته دمځکی اتموسفیرته را کوزیږی نو سر عت یی د ډ یر قو ی ټو پك د ګولۍ نه هم زیات شی یعنی په ساعت کښی شل زره کیلو متر ه چټکه شی دلته نو د بیړۍ دتګ ورو کول خورا مهم او حیاتی مسئله ده:شوروی پو ها نود ا مشکله هم حل کړه او نیجه یی دا شوه چه د شوروی دو اړه معرو فی بیړ ۍ داسی کر ار په مځکی کښیناستی چه بیړۍ او ما شین ته یی هیڅ نقصان و نه رسید

د تحقیق آلی :

دجویی او ماورای جویی حالاتو د معلومولو دپاره په بیړۍ کښې ډیرې دقیقـی الی ځای شوی وی.په مقایسوی نظردابیړۍ ګوا کی یوه مکمل لابراتوارهم وخوددې ټولو آلوشاهکار دهغی دمخابرې او را ډیو سیستم وچه ددقت اندازه ودې نه لګولی شوچه شوروی پوهانو دمځکی په سر دتیتوف تنفس اود زړه ټکان اوریدلی شو .

دیوازې مسافردپاره داډیراهمیت لری چه مطمن شی چه ښکته دمځکی خلکودی نه دې هیر کړی اودی یې یواځی نه دی پرې ایښی تیتوف دخپلو مځکنی همکارانوسره خبرې اترې اوصحبت هم کولی شو.اوخپل حالات یې بیانول .

په بیړۍ کښې یوه کړ کی هم وه چه تیتو ف به ورنه دباندې کتل. دمځکی په باب کښې یې تبصره مخابره کړه . (له کړ کی نـه زه کوز ګورم ډیرشیان زه ګورم ـ له دې فاصلی نه مځکه عجیبه شکل غو ر ه کو ی مځکه په ر ښتیا هم غونډارې ده.)

دکنترول په اسانی :

تیتوف پس له ښکته کیدوویل چه واستوك ۲ عجیبه ما شین دی هرڅه چه به مې ورته ویل هغسې به یې کول په هر طرف چه به مې سم کړ په هما غه طرف به روان شو.

داالوتنه چه هم دوخت او هم دفاصلی له نظره بی سابقی وه دفضایی تحقیقاتوپه ساحه کښې یوډیر اوچت ګام دی. دې پرواز دنړی ټول خلك معتقد کړل چه د شوروی اتحاد د سیانس او تخنیك د اوږ دې مودې پرواز ممکن کړی دی او دفضا د تسخیر لاریی پرانیستی ده .

درابښکته کیدو په وخت کښې ګن شمیر پوهانی دتیتوف هر کلی ته ولاړوو. په دې مینځ کښې دریم هوانوردهم و. داسی ښکاریده لکه چه تیتوف دفضایي پرواز کلی چه تر اوسه دده سره وه دریم ملګریې ته ور کړې وی او خپله دی روان وی چه دشوروی اتحاد دحکومت او ملت خلاصی غیږته چه د ده تاو ده هر کلی ته ګلان په لاسو کښې دریدلی و وورودانګی .

خطرناك

موږ ته هغه کسان خطرناك ښکاری چه روحیه یې زموږ له رو حیې څخه مخالفه وی .

هغه چه زموږ خویونه پکښې نشته موږ ورته بداخلاقه وایو .

څوك چه زموږپه اشتباهاتو مبتلانه وی موږته شکاك معلومیږی . اودافکرنه کووچه هغوی به په نورو شبهاتو مبتلا وی .

« اناتول فرانس »

دظاهر افن ژباړه

دسویتلیټر یچرڅخه

پرادبیاتو انتقاد

منی دی ځینی ونو پاڼې اچولې دی خو په ځینو پورې لااوس هم ژړې اوطلایی پاڼې ځړیږی . په لیننګراد کښې دارټ دپوهنتون وڅنګه ته یو ډیر ښکلی باغ واقع دی ددې باغ په یوه کنج کښې یوځیر که هلك او رسیدلې نجلی پرچوکی باندې ناست دی اومجلس کوی .

نجلی وهلک ته وایې ستارسم خورابنه دی په یاد دې دی چه معلم یې څونه ډیر صفت کاوه اوویل یې چه نور به هم پسې ښه شی.

ددې خبری لا پوره دوه کاله نه ووتیر شوی چه یوه ورځ و یوې ډرامې ته لاړم که ګورم چه هورې خورا ډیر خلک راغلی اوپه خورا زیاته توجه سره ننداري ته ناست دی زه حیران شوم چه داخلک ولې دونه ګرم دی؟ . زه په دغه فکر کښې وم چه هغه پخوانی د وه کوچنیان می ولیدل په داسې دل چسپی پورته اوښکته کیږی چه ټول ننداره کوونکی یې ور اخیستی دی .

که څه هم ددې کوچنیانوا کثونه ابتدایې اوطفلانه ووخبره داوه چه دوی ټولو ددې کوچنیانو د پاره یوه خو رابنه اینده په نظر کښې درلوده .

او دایې ویل چه په را تلونکی نژدې وختو کښې به دوی خورادښه ارټ خاوندان وی. په رښتیاسره ودې ننداري ته په ډلوډلو خلک راتلل او داسې باندې چوروچه لار اولیکه نه لیدل کیده دلته چه داخلک په دومره شدت را تله مقصد یې یواځې ارټ اوادبیات نه وو یعنی ځانله ددې دپاره خلك نه راتله چه ارټ اودخلکوا کثونه ووینی اویاتش خبرې واوری په هر ډول چه وی .

بلکه ددې اکثرانو په اکثر اوخبرو کښې داسې فلسفې پټې وې چه واقعاً دغه خبرې دا کاډمیو داستاذانو تر اکچر ولاهم زیات تأثیردرلود.

ارټ اوادبیات دخلکوپه ژوند کښې داسې یوښکاره تاثیر لری چه دهغوی دژو ند

ډیری عجیبې او پیچلی مسئلې ور حلولی شی. ارټ او ادبیات دخلکو پر ذهنونو باندی درسی اثر اچوی چه دمنفی اړخه څخه یې یوه خو راښه او مثبت پلوته راکشولای شی البته دا به ووایو چه ارټ او ادبیات یعنی څنګه ؟؟

که چیرې یو څوك د ژوند څخه بیزاره وی ځمکه او اسمان یوه الغه شوی او دده په غاړه کښې ورلویدلی وی . پر دنیا هیڅ شی خوند نه ورکوی او له هر څه څخه یې خوا توره وی. نو که په ارټ او ادبیاتو ځان پوه کړی ښه پکښې وارد شی، حتماً به دنیا ټوله وده ته ښایست وایسی او هر څه ته به یو ښکلی هنری قضاوت لری .

تر هنر او ادبیاتو پورې به زه د(پر اوادا) مجلې یوه خوراښه مناقشه درووایم. د(پر اوادا) دمجلې کله کله سوالونه خپرول او کله یې پر مختلفو موضوعاتو باندې انتقادونه کول .

دنو موړی مجلې په یوه کنج کښې دیوې نجلۍ شکایت خپور شوی وو هغه داسې و: نجلۍ ویلی ووچه زمامیړه یوخو راتندر سته ځوان او ډیر تکړه انجنیر دی په ډیر و نورو سیانسی موضوعاتو هم پوهیږی او ښی پیچلې مسألی حل کولی شی او زمادلته خوا ځینی توره ده او طبیعت می نه دی ورسره راسته چه دی وایی «نن ورځ دسیانس زمانه ده او زموږ ټول مشکلات سیانس پوره راحلولای شی نو ارټ او ادبیاتو ته کوم ضرورت نشته هغه زمانه ولاړه چه ادبیاتو ته به یې په خورا درنه سترګه کتل یعنی ساز ـ اکټ ـ ادبیات او نور هر څه ما ته یو ډول اهمیت لری چه ګواکی اوس زاړه شوی او زمانه یی تیره شویده »

دنجلۍ دامکتوب چه خلکو ووایه نود هرې خوا څخه پر نوموړی انجنیر باندی تنقید ونه شروع او دهر لوری څخه دپورتنو خبرو درددپاره د (پر اوادا) ومدیر ته لیکونه راولیږل شول .

چه(الیا) هم په خپل نوبت خپله مقاله په نومړی اخبار کښی نشر کړه او د پورته انجنیر په ځواب کښی یې وویل «ښایی چه نن ورځ به ارټ او ادبیات په درد نه خوری لکه څنګه چه دلیننګراډ ځینو ځوانانو لیکلی دی البته څنګه چه دوی وایې اوس دادب او هنر دوره. زړه شوې دی امادا خبره بایدو کړم چه دیوې جامعی په نظم او نسق کښی چه څو نه ارټ او ادبیات رول لوبوی هغو مره دخلکو ذهنونه هم دمنفی ساحې څخه ومثبتی ساحی ته را اړه وی .

یو بل ځای بیا انجنیر (پولیټایف) په پرو ادا کښی داسی لیکلی دی «هر هغه څوك چه نن (شلم قرن) دمثبتو قوانیو مراعات ونکړی یعنی

دخپلوچتی اوزړو خبروپه سیوری کښې خپل وراسته دلایل وړاندی کړی حتما به دسیانس له برکته او طبعی قواعدو په نتیجه کښې منحل اولمنځه ولا ړشی »نومو ړی انجنیر دخپلی مقالې په تعقیب کښې وایې نن ورځ دعقل او پوهنې ورځ ده داخبرې بی معنی دی چه ووایو ای زماجانانه ! ای زمادلبره !

زه خوداخبره په رښتیا اود زړه له کومی کوم چه که هرڅوك ځان دسیانس طرفدار بولی نودې راشی چه ادبیات په ګډه هغه چاته ورپریزدو چه خوښیږی یی هغه وخت چه دغه مقاله نشره شوه نو بیا په زرهاوو زرهاوو عالمانو ادیبانو او شاعرانو ددې انتقاد دتردیدد پاره مقالې ولیکلی چه ګواکی یوادبی اړودوړ بناشو.

(ایلیوراپوپووا) بیا په ځواب کښې داسی لیکلی :

«بنه داخبره خویوه منلی خبره ده چه د سیانس په برکت به انسان و فضاته وخیژی داسی ځای ته چه تر اوسه پورې دهیڅ انسان وس نه په رسیدی.

هورې به دوی خپل معلومات ټول کړی علم ته به وسعت ورکړی اودخپل ژوند دپاره به ډول ډول نوی وسایل راغونډ کړی اما داچه په هغه ځای کښې به د ده احساسات څنګه وی ؟ حرکات به یی څه ډول وی؟ دده معنوی او ظاهری وضع به څنګه وی؟ ددې ټولو خبرو تشریح او ترسیم بیادارې اوادبیاتو کاردی. نوهمداسبب دی چه ګورکی په خپل اثر (طوفانی بطه) کښې د استاویسکی او نورو ادیبانو په خپلو کار نامو کښې داسې فلسفې ځای کړیدی ګواکی اجتماع له خوبه راپاڅوی اودخلکو ومغزوته ټکان ورکوی.»

دپراوادا په بله څنډه کښې لیونیدوف انجنیر لیکی چه «سیانس او ارټ هیڅکله یو ه دبله سره ضدنه دی بلکه داسې مفهوم لری لکه دوه کوچنیان چه همیشه یوځای سره ګرځی او یوله بله ډول ډول سوا لونه کوی .»

که چیرې دیوه محیط یایوې جا معی په کلچر عاداتو اوخویونو کښې کو مه پیښه وړو کی وی که لویه سپکه وی که درنه پیښه شی ټوله دهغې جامعی اومحیط په ادبیاتو پوری مستقیمه اړه لری نو که چیرې د کومو خلکو ارټ او ادبیات لوړو نوښکاره ده چه دهغو خلکو خبرې عادات اوحرکات ټوله دستایلو وړوی.

یوارټیست او ادیب بایدڅنګه وی او باید څه وکړی؟

ددغې موضوع په روښانه کولو کښې (مارییاسورو کینا) چه یوه کاریګره ده لیکی! «دادبیاتو وظیفه یوازې دانه ده چه د حقیقت

اوواقعیت عکس واخلی» یواځې داهم کفایت نه کوی چه یو څوك غلطی وکړی اود هغه غلطی ورو ښیی ترڅولو د مخه باید یوشاعر یا ارتیست دمبارزې خاوندوی دمجادلې توان ولری اودمقاومت سره عادی وی .

ورپسې باید دیوه کامل استعداد خاوندوی . موږ داستعداداستعدادناري و هو استعداد یعنې څه ؟

دلته مستعدسړی هغه دی چه دژوند په اسرارو داسې وپوهیږی چه عادی خلك هیڅکله نشی پرې پوهیدای .

یوادیب یاارتیست دسیانسدان په شان باید یوځای اودځانه سره دلا براتوار په کونجانو کښې تجربې ونکړی . دی باید دخلکوعموم روح ورمعلوم کړی دهغوی پرعاداتواو کلچر داسې ورننوځی چه په کښې ورك نه شی .

یوشاعریایوارتیست ته لازمه ده چه ترنورو خلکوزیات دخپل ملت په ډیرومهمو موضوعګانو وپوهیږی اودهغوی د لارښونې لپاره داسې قدمونه واخلی چه ټکرونه خوری دپورتنو خبرو داثبات دپاره ګورکې چه هم دخپلوخلکو په نبض پوهیده هم هغه ډول یې چه لازم وومقاومت کړیدی .

بودهغو نامتواوجهانی ادیبانو څخه دی چه ټول ادبی او فلسفی خصوصیات یی پر ځای کړی و .

ګورکی دخپلی اجتماع په ټولولوړو اوژورو خبرو دخپل محیط ښې اوبدې پورته او کښته طبقې په خوراواضح ډول ورته معلومی وی . دا باید وویل شی چه ما کسیم ګورکی په خپلو ادبیاتو کښې خوراډیردطبیعې قوانینو مراعات ساتلی دی پس نودا باید ووایو چه دتکا ملی تحول له مخې به ارتې اوادبیات په هغه اندازه تکامل اوتحول وکړی لکه څنګه چه سیانس ته لازم دی .

عبدالمنان «ملګري»

وخوړم

وخوړم غمژ نې دنیا وخوړم
دا سې ویر ژړلې دنیا وخوړم
د غه د یتیم او دغریب سلګو
هم دکنډ ورنډ وژړا و خوړم
یو پلو مظلوم په‌خپلو سرو سترګو
بلې خوا ظالم په خند او خو ړم
راغلمه‌دنیا ته چه خوشحال به شم
دې فلك په‌تو رې بلا و خو ړم
سترګې دګل ډکې دی له اوښکونه
داد خزان ظلم ا و تا داو خوړم
څه‌به کړم‌خوښی که پس‌له‌دې‌راشی
زه چه اند یښنو اوسودا وخوړم
هیڅ به‌دې نورنوم‌په‌خولې وانخلمه
ای زمانې ! تازه په چا وخوړم
دادغمه ډك دژوندانه دابستا ن
مه وایه ملګر یه ! چه‌تا وخوړم

عبدالکریم محب

پېغلی

داته سپوږ می یې که دحسن پر ښته یې پېغلې
او که دنوی ښکلیتوب یوه جلوه یې پېغلې
چه درته ګورم له حیاځنې خولې خولې شې
یه ! بل څه نه یې زه اوس پوه شوم پښتنه یې پېغلی
ساده ښایست دې دسینګار سره بلد لانه دی
ساده جامو کښی دځوانی سپینه شغله یې پېغلی
چه درته و ګورم کږه شی اوپلو ونیسې
دنا و یتوب دَ خوږ و شپو یو ه نخر ه یې پېغلې
ستادپاولو اوداوږی شرنګامې نه هېرېږی
ته مې دمستی شاعری خوږه نغمه یې پېغلې
زماپه یادی جنکوسره وښوته چه تلې
زما دځوانی یوه رنګینه خاطره یې پېغلې
لکه چه بیاله مانه زړه کې ګیله منه ښکار ې
یا خود کور په څه خبره نن غمجنه ښکارې
هلته دلویې کروندې دشنو وښو په خوا کښې
رانه په څنګ شولې دګڼو کشمالو په خوا کښی
دستر ګولاند ی سانیولې دی پټ ما ته کتل
بیا په خند اوې هلته ناسته داو بو په خوا کښی
ما دګودرسره چه سیل دشنو منګیو کاوه
غاړه غړی شوی جنکو سره شنېلو په خوا کښی
ستاداوږ د و کوڅولړوته می خیال راغی هسی
لکه چه را شی لېونی دزولنو په خوا کښی

دتهیکری پیڅکه به دې خولې ته په خندا نیوله
زما به اوښکې شولې غوندې دلېمو په خوا کښې
اوږه دې پورته غور زوله دو یناره سم
لکه چه ناسته یورپې وی پښتنو په خوا کښې
زه دې چه ولیدم جامې دې داسې ټولې کړلې
لکه دښکلې مېلمنې د کور بنو په خوا کښې
ناڅاپه ماته دې چه پام شو وارخطا غوندې شوې
رنګ دې آلوتی ښکارېدلو ته هم ماغوندې شوې
مخ ته دې سورپلو نیمکښه کړه پرېشانه شولې
خدای خبر څه دی زړه کښې تیر شوه چه روانه شولې
خدایز ده په څه دی را ته مړاوې سترګې واړولې
تش دې نظر چه په ما پرېوت بیا خندانه شولې
وړاندی چه لاړې پښه نیولې شوې ستنه غوندی شوې
په مکېزو نود ې شوم پوه چه مهربانه شولی
تا به د ځان سره خبرې دګیلې کولی . . .
زه اند یښمن شوم چه خپه په څه له چانه شولی
چه د چینی زړو او بو له څنګه پاڅېدلې
بیالزه لری دملګرو پېغلو خوا نه شولې
ماوی چه راشم داوبو په پلمه سپل دی و کړم
منګی دی غیږی نه چپه شولو حیرانه شولې
زری پنې دقنا وېز سر کی کمیس دې شولوند
دشا اوخوا څار دې کولو بد ګمانه شولې
زړه می په پر شو چه غصه به راته و کړی ډېره
بیا په خوږه خندادې نورهم راته ګرانه شولې
لا خو محب هغه ګړی هغه شېبې یاد وی
په موسکو شونډو دی وړې وړې ګیلې یاد وی

لیکنه او پلټنه . ګل محمد «نورزی»

دادبیاتو دپوهنځی محصل

هګل او د روح فلسفه

جورج ویلهم فریدریك هګل په کال ۱۷۷۰ ع کښې په Stuttgart شتوتګارت کښې وزېږیده دهګل پلار په وور تمبرګ کښې د مالیې په د فتر کښې په یو ه ټیټه ر تبه کار کولو . هګل د کال ۱۷۸۸ څخه تر ۱۷۹۳ کال پورې په توبینګن کښې دلیسانسی په اخستلو بریالی شو. هګل په دې وخت کښې د هولډزلین Holderlin یوالمانی شاعر سره چه دملك الشعراء لقب ئې درلود او مشهور فیلسفوف Schelling سره اشنایی پیدا کړه او دهګل همکار شو کوم وخت چه هګل دفا کولتی شهادت نامه واخستله په هغه کښې ورته لیکل شوی وو ، چه هګل په کلا م او ژبپژندنه .باندې ښه پو هېږی مګر په فلسفه کښې چندان مهارت او استعدادنه لری. داوخت هګل په ډېره غریبی کښې ژوند کولو. په برن او فرانګفرت کښې ئې د تدریس له لارې ډوډی پیدا کوله په کال ۱۷۹۹ کښې ئې پلار مړ شو او د پلار څخه یوازې یوزرو پنځه سوه فلور نه په میراث ورته پاتې شول . څه وخت چه دا پېسې دده لاس ته ورغلې نو په دې فکر کښې شوچه اوس غنی شوم او د تدریس له لارې پیسو ګټلو ته اړنه یم نوخپل ملګری شینګ ته ئې لیك واستو او له هغه څخه یې مصلحت وغوښت چه داسې ښار راته انتخاب کړی کوم چه هلته کتابونه ډېر، او ډوډی ئې ساده وی . شینګ هګل ته د Jena ښار توصیه و کړه .پدې ښار کښې شینګ او فیخته دواړه د Jena په پوهنتون کښې دفلسفی په درس مشغول و و .

هګل په کال ۱۸۰۱ ع کښې هلته ولاړ . او په کال ۱۸۰۳ کښې دیناپه پو هنتون کښې دفیخته په ځای چه نوموړی څه موده پخوا مړشوی و خپل لومړنی د فلسفې درس شروع کړ. تر ۱۸۰٦ کال پو ری پد غه ځای کښې پا تې شو ترڅو چه نا پلیون په پروس باندې غلبه وموندې او د غه وړ و کی ښاریې چه د علم ځانګووه دخطر سره مخامخ کړ.

فرانسوی سربازانو دهګل په کور حمله وروړه هګل یوازې دیوه مشهوراثر سره چه دروح فلسفه ئې نو م ووتښتید څه موده ئې په بامبرګ کښې یوه ورځپاڼه خپر وله په

۱۸۱۲ کال کښې دفورنبزګ دمدرسی درئیس په حیثت مقرر شو. پدې موقع کښې هګل دمنطق کتاب ولیکه او دا کتاب سبب شو چه دهیدنبرګ په پوهنتون کښې دفلسفی داستاد په حیث وټاکل شی هګل په هیدنبرګ کښې په ۱۸۱۷ کال کښې خپل مشهور کتاب د« فلسفی علومو دا یرة المعارف» په نوم ولیکه. ددی کتاب په لیکلو سره دبرلین په پوهنتون کښې داستاد په حیث ومنل شو . د دی تاریخ نـه ورو سته هګل دفلسفی په دنیا کښې آزاده پادشاهی کوله .او هغه شهرت چه د ګوته په ادبیاتو اودتبهوفن په مو سیقی کښې نصیب شوی و هګل ته په فلسفه کښې و ر په بر خه شو . د ه په ۱۸۲۱ کال کښې یوبل مهم کتاب د حقوقو دفلسفی په نوم خپور کړ. بالاخره په ۱۸۲۱ کال کښې د کولرا په مرض مړ شو .

هګل په ا بتداء کښې د شلینګ د فلسفی ترتأثیر لا ند ی و. ورو سته یې ورو ور و خپل فلسفی سیستم د نیا تـه و ړ ا ند ی کړاودبشر په فکری تاریخ کښې یې یوډیر لوی فلسفی سیستم پیدا کړ. دهګل فلسفی سیستم په هګلینا سیم سره شهرت لری ده د فلسفی ټولوڅانګو، مظاهرواوعقایدوته چه د سقراط څخه نیولی ترروسو اوهیوم پوری را رسیږی لاس اچولی دی. اوډیر کوښښ یې پدې کښې کړی دی چه دفلسفی ټول مظاهراوتیرشوی فیلسوفانو تخیلات لهمتافزیك نه ترمذهب ، سیاست، اخلاقیات اوعلوموپوری ټول پخپل فلسفی دستګاه کښې جمع کړی او تر یوه فلسفی سیستم لاندی ئې راو لی . هګل ته ځینی په پوره حق قائل دی اود نونسم قرن ډیر لوی فیلسوف ئی شمیری.اوځینی نوردهګل خبری دعبثو اوچټی تخیلاتو په قطار کښې راولی .

هګل په نوی اوزاړه علم وحکمت او ادب کښې پوره لاس لرلو. ویل کیږی چه هګل دټولو فیلسوفانوڅخه چه پخوا تیرشوی دی ا و خصو صاً ، بر ما ند یس، ا فلاطو ن ارسطو، سپینوزا او په ډیره اندازه د کانـت، فیخته اوشینګ له افکارواو نظریاتو څخه استفاده کړی ده . داوه دهګل لنډه پیژند ګلوی اوس به دا کوشش و کړوچه هګل دروح په فلسفه باندې یولنډ نظرواچوو.

د روح فلسفه :

دهګل دفلسفی اساس او بنسټ دروح اوعقل په سر ګذشت باندې ولاړدی. داروح چه هګل ئې عالمی عقل بولی. کوم ذاتی اونفسی شی نه دی . بلکه یوعالمی حقیقت دی. دعقل سیر په طبعیت کښې ددی لپاره دی چه عقل خپل

ځان وپېژني، آزاد شي ، د خپل واك څښتن شي اومستقل شي. دهگل په فلسفه کښې کوم شي چه دروح په فلسفه سره یادیږي له هغه څخه دانسانیت تاریخ مرا ددی .

ددی لپاره چه عقل ځان وپېژني اودمطلق استقلال درجې ته ځان ورسوي بایدیوڅو مرحلې طی کړي. داد عقل مرحلې یا انسانیت تاریخ هگل په درو برخو ویشي :

۱ـ روح په ذات کښې. ۲ـ روح د ذات نه خارج. ۳ دمطلق روح مرحله .

دروح مرحله په ذات کښې دانسان انفرادي حالت ښیي. تر کومه پوري چه دابتدایي انسانانو په باره کښې پلټنه اوتحقیق شوی دی داسې معلو میږي چه لومړنی انسان ځان نه پېژني خپل فردي شخصیت ته متوجه ندی او له ځان څخه بیگانه دی د هغه څخه خپل ځان پـه طبیعت کښې ورك دی. پدی حالت کښې دانسان ژوند دحیوانیت دوري سره څه توپیر نه لري له یوی خوادوخت اومکان د مقتضیاتو سره سم دمشکلاتو په حلقه کښې گیر شوی دی له بلې خوا د نفس اوهوا و هوس په قفس کښې بند شوی و . ورو وروئې حواسو اوادراکاتو وده وکړه اخلاق اوعادات ئې ځان ته جوړ کړل ترڅوچه دا جمالي پوهې اوشعور څښتن شو ، دځان احساس ئې وکړ. خپل ځان ئې دهیڅ قید اوشرط لاندې نه با له ، او ویل ئې چه «زه» یم . څه وخت چه ده ته دا احساس پیداشو دځان غوښتنې غریزې ئې په جوش راغلـې دنوروسره په جنگ اومناقشه اخته شو. اودائې غوښتل چه نوردځان مطلق تابع کړي. دامرحله په خپل قوت پاتې نشوه ځینې جغرافیایـې شرایطواقتصادي تحولات راوړل. انساني قبیلې یاپه جنگ یاپه سوله دنوروقبیلوسره یوځای شوې مهاجرتونه ئې وکړل. انساني ټولنو پراختیاوموندنه دانسانیت تاریخ یوې بلې مرحلې ته گډ شو . دعقل پدی مرحله کښې انسانان مجبور شول چه دنورو کسانوسره مناسبات ټینگ کړي . او خپله مطلقه آزادي دنورو په ساحه کښې محدوده کړي هغوعاداتواواخلاقوچه دطبیعت په یوه محدوده قبیله کښې ئې ارزش درلود دلته ئې خپل اهمیت له لاسه ورکړ. هر څومره چه انساني ټولنو وسعت پیدا کړ په هغه اندازه ئې دافرادوشمېر زیاتیده. دافرادوپه منځ کښې دملکیت مسأله منځ ته راغله پدی مرحله کښې انسان ځان ته په حقوقواو اختیاراتوقائلیږي داړول اجتماع دثروت دنیا ده افراد ځان ته دا حق ورکوي چه خپل شته په هرډول چه یې زړه وغواړي خرڅ یایې له یوځای څخه بل ځای ته نقل کړي .

دهواوهوس په اساس داقتصادی نړی بنسټ
بدی. د دی ډول اجتماع مقصد دادی چه فردی
احتیا جات پوره کړای شی .
ددی ډول اجتماع سره ځینی نظریې ملګرې شوی
چه ددی نظر یو په اساس فردی ګټه اجتما عی
ګټه بولی ددی نظریو پوهانو به ویل کوم وخت
چه یو سړی ګټه کوی پدی ګټه کښی
د اجتماع خیر دی هګل دانظریه نه منی او
انتقاد ورباندی کوی. هګل اجتماعی تناقضونه
نه لیده او داورته ثابته شوی وه چه ثومره ثروت
تجمع کوی غربت زیاتیږی ثومره چه دا رنګ
اجتماع پرمخ ځی اجتماعی تناقضونه ډیر یږی
دهګل په نظر دا اجتماع انسانی حقیقی اجتماع
نده ځکه چه پدی اجتماع کښی فردی آز ادی
کوم حقیقی مفهوم نلری، څه وخت چه ددی ډول
اجتماع لمن پوره ارته شوه دولت منځ ته را غی
ددولت دتشکیل غایه داده چه دفردی ګټو
په منځ کښی جګړې لـه منځه یـو سی .
او د مد نی اجتماع تنا قضو نه حل کړ ی
او فردی ازادی ته پوره دتحقق شکل ور کړی
ددولت په مر حله کښی فردی ګټی داجتماعی
ګټو منافی نه دی ددولت په مرحله کښی اجتماع
ځان محسو سولای شی. اوهغه بیګا نګی چه
په فامیلی اومدنی اجتماع کښې موجو ده وه
ددولت په مر حله کښې له منځه ځی په فا میلی
اومدنی اجتماع کښی اجتماعی ګټه په فرد ی
منافعو برتری درلوده ولی ددولت په مر حله
کښی اجتماعی منافع د فردی منافعو منافی
نه دی ځکه چه افراد هم دهغه دولت چه وجود
ئی معقول دی یوجز او نماینده دی د هګل په
نظر ددولت تشکیلیدل دهواو هو س یا کوم
قرارداد نتیجه نه ده چه دافرادو دمنافعو دساتلو
لپاره منځ ته راغلی دی بلکه یو لازمی او معقو ل
امر دی چه د لوړی غایی لپاره منځ ته ر اځی
داسبب دی چه دولت مقدس دی د دولت په مقابل
کښی باید مطلق اطاعت وشی دهګل په عقیده
دولت دانسان او انسانیت جګه مرحله ده او حقیقی
فردی آزادی هم پدی مرحله کښی تحقق مومی
ددولت په مر حله کښی اجتماع په ځان پوهیږی
او حقیقی انسان منځ ته راځی هګل وائی ثومره
چه ددولت وجود ضروری دی په هغه اند ا زه
ئی ازادی او استقلال هم لازمی دی تر څو چه
ددولت لوړی غایی ته ورسیږی هګل دولت ته په
ډیره درنه ستر ګه ګوری ددولت وجود دافرادو
له وجود څخه مقدم بولی او که لازمه شو ه د
جنګ په وخت کښی افر دباید ددولت لپاره مال

(پاتی ٤٥ مخ کښی)

حبیب الله «تبزی»

نوې ژب پوهنه

او زړې خبرې

«۲»

املاء له اره د «کښل پوهنې» یا ګرا فو نومی Graphonomy (۱) یوه څانګه یا برخه ده. اما څرنګه چه زموږ په عنعنوی مطالعاتو کښې په ډیر عجیب ډول سره مطالعه اوان ترخپله کرا فونو می څخه هم مهمه ګڼل شوې ده نو له دې امله باید چه په لږ څه تفصیل سره مطالعه شی.

کله که موږ د پښتو املاء (مطلب له پښتو املا څخه هغه لیک دودد ې چه د پښتو ژبې دلیکلو د پاره استعما ل شوی دی..) او سنی بڼه او تاریخی سیر د ځینو نورو املا ګانو لکه انګلیسی یا فارسی سره مطالعه کړو نو به داراته ثابته شی چه په دې دواړو صورتونو کښې ددې اوهغو ترمنځ یو ښکاره توپیر پروت دی.

مثلا پښتو املا د تاریخی سیر په لحاظ له انګلیسی او پارسو څخه دا توپیرلری چه پښتو املا کومه داسې لرغونی ثابته بڼه نه لری چه دې د عنعنوی یا د ځینو په اصطلاح «معیاری» املا په حیث ومنل شی. اما کله که موږ د ځینو نورو املا ګانو تاریخی سیرو ګورو نو به هلته ووینو چه دغه املا ګانی په عمومی ډول سره له ډیرې پخوازمانې نه را په دې خوا داسې یوه بڼه لری چه په بیلو بیلو سیمو او مهالونو کښې بیلو بیلو خلکو فقط هم هغه بڼه استعمال کړې ده او په مرور د زمان یو خاص «دود» ګرځیدلی دی. داسې چه خلکو یو ډول نا معقوله او محض احساساتی علاقه ور سره پیدا کړې ده او هیڅ تغییر هم نه شی پکښې منلای. «دا ډول یوه ثابته دود شوې املا لکه د انګلیسی فرانسوی-جرمنی» یا پارسو املاء «عنعنوی املا یا «Traditional Or hography» بلل کیږي او د عنعنه پسندانو یا «پیورستانو» له خوا دلیک دود د صحت او خطا محک یا معیار ګڼل کیږي او وایی چه «د املا په برخه کښې زموږ د پاره محک دوه شیه دی: ۱- د دې قول سره سم چه الفضل للمقدم. د پخوانو استادانو اثار او کلام چه هرو مرو هر ډول فصاحت او بلاغت پکښې پروت دی.»

«۲- علمی او فنی موازین چه هغه بیا پخپله هم د همدوی د لارښودنو او رېړونو ثمر دی. یعنې کله که موږ ته د یوې کلمې د املاء په برخه کښې شک پیدا شی د دې خبرې د سپینولو د پاره ډیره ښه لاره مراجعه ده د منقد مانو اثار وته ځکه دوی په داسې برخو کښې د ومره دقیق او عمیق اود پارسو او عربی ژبو د امرونو او د قایقو څخه خبروو چه د هغوې اثار زموږ د مدعا دلیل دی- افتاب امد دلیل افتاب.» (۱)

دغه ډول څرنګه چه د مخه هم ویل شوې دی کله که په انګلیسی کښې د Night پرځای Nite ولیکل

(۱) پروفیسور «هاکټ» د خپلا هغه کتاب په (۵۳۹) مخ کښې چه ما د خپلو مقالو د ماخذ په حیث په تیرو ګڼو کښې ښودلی دی دا اصطلاح Graphonomy راوړې او لیکی چه باید د لیک او دلیک د سټمو نو منظمه مطالعه ګرافو نومی و بلل شی.

دادی زه دا کلمه موقتا په «کښل پوهنه» ترجمه کوم اما داهم وایم چه ښایي ښه ترجمه به نه وي.

(۱) نه یوازی دلته بلکه ښاغلی لیکوال د خپلې هغې رسالې له سره تر پایه چه د درسي کتاب په حیث په ګسټنر هم چاپ شوې؛ ژبه-ادب او املا سره ګډوی او کله دیوه په نامه په بل غیبزی کله د بل په نامه په بل.

شی نولیکونکی سمدستی له ستونی نیول کیږی او نه یوازی داورته ویل کیږی چه املادې غلطه ده بلکه په دې هم محکومیږی چه انګلیسی «ژبه» خرابوی . البته داچه پهڅه دلیل.ښکاره ده چه دد وې استناد اواستدلال هم دخپلود غووچو حکمونو په برخه کښې په هغه څه ده چه موږ دمخه دعنعنوي املا په نامه یاده کړه .

مثلا «کله چه څوکاله دمخه یوې کثیرالانتشاری ورځپاڼی - منځنی غرب Mid - West په دې پیل وکړ چه یوه ساده املا په کار واچوې لکه دا چه دAisle پرځای Aile ولیکی نوموړې ورځپاڼه د خلکو اعتراضونو چه یې دهمدې دعنعنه پسندۍ دقوی احساس څخه سرچینه اخستله دې ته مجبوره کړه چه له خپل دغه کوښښ څخه لاس واخلی .»

دغه ډول هم څوکاله دمخه دکابل په ورځپاڼو په تیره بیا «انیس» کښې یو لړ «انتقادی» لیکنې د «چطور باید نوشت» ترعنوان لاندې دیوشمیر پاړسو لیکوالو له خوا روانې شوې چه په هغوې کښې دهمدی عنعنه پسندۍ دروحیې په اساس هغه لیکوال چه یې «خرد-خرسند-خشنود» په همدې یعنې هغې بڼی چه دمنقدینو په عقیده ددغو کلماتو دلیکلو درسته بڼه ده نه لیکلی بلکه «خورد-خورسند- خوشنود» یی لیکلې په داسی یوه تنده لهجه تر انتقاد لاندې ونیول شول چه هرجمله یې ترښکنځلو نه کمه نه وه . (۱)

ا لیته دغو «منقد ینو» هم خپلې ټولې سپکی سپوری فقط په هم هغه د «الفضل للمتقدم ...» په دلیل - چه د مخه د همدې منقد ینو دیوې درسی ګسټټنرشوې مقالې څخه رانقل شو-خلکو ته کولې .اما

(۱)-امادالیکنی هم دومره ګډ و ډې وې چه په اصطلاح دمعجون مرکب حکم یې لاره .ځکه د لته هم لیکوالو ژبه اولیك اولهجه اواملا داسې سره ګډ کړی دی چه سړی چورت ورته ایسی .

کله کله بیادوی پخپله هم په منقولاتو او عنعنه قناعت نه دې کړی بلکه کوښښ یې کړیدې چه منقولاتو ته ولاړشې اوعقلې دلایل ارائه کړی .

مثلا د «صد» یعنی «سل» په برخه کښې لیکی :

«د-صد- کلمه په سلودلایلوموږ ثابتولای شوچه په س - ده . پنځه دلیله دادی چه لومړی کلمه پاړسوده او-ص- په پاړسو کښې نشته . دوهم داچه کلمه عربی نه ده-درې بم داچه تلفظ یې-س- دی څلورم داچه په نورو ټولو اریایې ژبو کښې هم -س-تلفظ کیږی .پنځم داچه د-سدی- کلمه چه دپیړۍ په معناده اوهم دغه ډول د-سده معروف جشن په سین لیکل کیږی .»

یاداچه د «د-ذ-» په برخه کښې لیکی :

«ځینې معاصرین دافکر کوی چه ګوندې ذال خاص عربی توری دی اوپه پاړسو کښې نشته اودایی جایزه ګڼلی ده چه دې-ګذاشتن- پذیرفتن-او داسې نورې کلمې په -ز- ولیکی.اماداچه ذال- پاړسو کښې وجودلری هیڅ شك نشته (۲). عجیبه لاداچه په قدیم کښې یې اغلب دالونه -ذال-لیکل اوویل... » وروسته له دې دیولړ تشریحاتو په نتیجه کښې بیا لیکی چه : «دپورته تشریحاتو نه داثابته شوه چه - ذال- په پاړسو کښې شته او حتی داموهم ولیدل چه تقریباً ټول دالونه ذال وو. » (۳)

(۲)- دلته ښاغلې لیکوال د خپل هغه یوه دلیل نه چه یې د « صد » دکلمی دپاړسو توب په باره کښې ارائه کړاووې ویل چه دا ځکه-س- دې چه په نورواریایې ژبو کښې هم-س-تلفظ کیږی- خپله پخپله ماتوی.ځکه کله که دادلیل درست وی خود- ذال فونیم هم په هغه بڼه چه په عربی کښې موجود دې په اریایی ژبو کښې نشته اوپه دې اساس باید پاړسو کښې هم نه وی.

(۳)- دلته هم ښاغلی لیکوال «ژبه» او «لیک» او « مورفیم» او «ګرافیم» داسې سره ګډ کړی چه له سړی څخه دخبر و لار ورکوی .

دلته ښاغلی لیکوال بیاهم د «املا» په برخه کښې خپل د «الفصل للمتقدم...» محك یا اصل په لغته وهی او ژبنیو او ګرامری دلایلو ته مراجعه کوی او د هغه په نتیجه کښې خلاف د نوې ژب پوهنی (ځکه بوخوژبه او املاله اره دت سره بیل او بل په او سنی پاړسو ژبه کښې نه لیك کی- د ګذ اردن او ګزاردن کوم ګړ نی شکلونه چه موجود دی هغه واړه په عین لهجه کښې یوشان تلفظ کیږی او د ګذاردن او ګزاردن دد رې یم فو نیم تر منځه نـو کـه یـې ګـر ا فیم ـ ذ ـ وی او که «ز» هیڅ توپیر نه لیدل کیږی) او خپل عنعنوی اصل دا حکم کوی چه باید په ځینو کلمو کښې دلرغونی «ذ» د ګرافیم پرځای «ز» ولیکل شی. اما سره له دې ټولو خبرو بیاهم په د غه لړ املاګانو کښې د صحت او خطا په برخه کښې ډیر مهم اصل او محك همدا «الفضل للمتقدم ...» دی. البته په دې کښې څه شك نشته چه په دې او اخرو کښې ، په ځینو برخو کښې د پښتو املا خبره هم لږ څه سخته شوی ده . یعنی ډیر ځله داسې کیږی چه کله که سړی . «ده چه وویل» په کومه بله بڼه یعنی « دهٔ چې وویل » لیکی نو سمد لاسه د ځینو خلکو له خواتر انتقادلاندې راځی او ورته ویل کیږی چه املا دې غلطه ده .

حتی دومره چه ښا یی په ځینو از موینو کښې دزده کوونکی د ناکامی سبب وګرځی او زه هم له مجبوری ورځې تر همدې شیبې پورې هغه دا ملا سټم یا لیك دود استعمالوم چه دغه ډول خلك یې درست بولی . مګر سرله د ی هم څرنګه چه دمخه وویل شو د پښتو املا او هغو املاګانو ترمنځ چه دمخه یې یادونه وشوه د تاریخی سیر او د صحت او خطا د محك له نظره ښکاره توپیر پروت دی او هغه دا چه کله که د تاریخی سیر په لحاظ موږ پښتو املا مطالعه کړونو به په صراحت سره داراته څرګنده شی چه په بیلو بیلو مهالونو او ځایونو کښې د بیلو بیلو افرادو او ډلو پښتو املا سره فرق لری. «د پښتو د کښل شوو اسنادو د مطالعې څخه څرګند یږی چه د املا په برخه کښې خوشحال خان د سلیمان ماکو په لاره نه دی تللی او معزالله د عبدالقادر. نو له دې امله د پښتو املا د مطالعې په برخه کښې یو ځل باید سړی د سلیمان ماکو املا وګوری او بیاد روښان پیر. یو پلا باید د خوشحال خان د کورنۍ املا مطالعه کړي او بیا د دوی د شاوخوا نورو لیکوالو. یو پلا باید د شیخ ملی املا وګورو او بیاد محمد هوتك . ځکه د املا په برخه کښې دی د هغه په پله نه دی تللی او هغه دده . حتی تر دې ځایه چه روښان پیر د شیخ ملی په لاره هم نه دی تللی. ځکه دولت واهی چه :

روښان پیر خیرالبیان په څلورو ژبو ولیك او د پښتو د پاره یې لیك وضع کړ. دغه ډول د معزالله او عبدالقادر خټك د کلمی دیوانونو د پرتله کولو څخه څرګندیږی چه دوی دواړه هم سره له دې چه په یوه مهال کښې او یو بل ته سره نزدی سیمو کښې اوسیدلی دی په یوه املا یی لاره نه دی تللی.» (۱) دغسی زموږ دا ننني تصویب شوي او یا «منل شوی» املا هم څو کاله دمخه املا سره فرق. لکه څرنګه چه خپله د پښتو ټولنې همدا د څو کلونو «املایی» فیصلی هم یوه د بلې سره څه توپیر لري. نو له دې امله باید وویل شی چه د پښتو املا د صحت او خطا په برخه کښې پر لرغونو کښل شوو اسنادو او یا املایی شکلونو استناد کول او یا دا چه هغه محك ګڼل پر هغه تش په نامه استدلال هم نه شی بنا کیدلای چه ځینی خلك یې «الفضل للمتقدم بولی» او وایې چه زموږ املا باید هغه بڼه ولری چه له ډیر پخوانه تر اوسه پورې رارسیدلی او په پیړیو پیړیو حفظ شوی ده . نو له دې امله په پښتو املا کښې هیڅکله هم پخوانۍ املا ته مراجعه د یوه املایی شکل د صحت او خطا په برخه کښې درست کار نه دی او همدا علت دی چه ځینی هغه پښتانه لیکوال

(۱)- پښتو املا د تاریخ او تحول په برخه کښې د مفصل معلومات د پاره وګوری. د دې مقالی د لیکونکی مقاله «پښتو لیك» د ادب مجله د ۷ ۱ - ۲ - ۳ ګڼه

چه یې د پښتو رسم الخط یا املا په نامه خبرې کړې دی خپل استدلال د عنعنوي املا پر مراجعه نه بنا کوي بلکه لیکی چه:

د رسم الخط د ترجیح د پار دې اساساتو ته کتل کیږي:

۱ـ د کلمې اصل او ریښه ـ ۲ ګرامر او قانون ـ ۳ـ د تلفظ سهولت او د التباس رفع کول» بادا چه:

«د املا خاوند: ۱ ـ څه چه لیکی باید د صحیح تلفظ له مخې یې ولیکی ۲ـ د الفاظو په لیکولو کښې د ګرامر ـ مراعات ډیر زیات په کار دي ـ ۳ـ دوه بیلې کلمې به یو له بله په لیکلو کښې نه سره نښلوو.

٤ـ کله که له دوو کلمو څخه یوه جوړه شوی وي نو بیایې په لیک کښې بیلول ښه نه دی ٥ـ یوه کلمه د بلې په شان باید و نه لیکو او د التباس مخه ونیسو.»

اما دا چه پورته ټکی او اساسات ر ښتیا هم داسې اساسات دي چه دې د املا یا رسم الخط د صحت او خطا په برخه کښې ور باندې اتکا و شی و که یه؟ بیا آیا هغه ټکی چه واقعا په پورته ټکو کښې په املا پورې اړه لري هغه د نوي ژبپوهنې له مخې دیوې ښې املا د پاره منطقی محك او معیار کیدې شی او که یه؟ د لته خبره دا ده چه زما په فکر خوله پورته ټکو او یا اساساتو څخه لومړنی څوټکی داسې ټکی دی چه هغه اصلا په املا او یا رسم الخط پورې اړه نلري بلکه د ژبې او لهجې په بحث پورې اړه لري.

۱ـ دا خبره چه د رسم الخط په برخه کښې لومړنی اساس «د کلمې اصل او ریښه ګڼل شوې ده»

که مطلب له دې خبرې څخه دا وي چه کلمه څرنګه چه ویل کیږي باید هغسې ولیکل شی یعنی څرنګه چه د «ډال» کلمه له اوه له درو داسې فونیمو نو څخه جوړه ده چه د هر فونیم د پاره یې تا کلی ګرافیم هم په لیك کښې لرو. نو له دې امله دا کلمه باید «ډال» یعنی په هغې بڼې ولیکل شی چه ویل کیږي.

در سته ده چه دا بحث یو املایی بحث دی. اما کله که د ښاغلی لیکوال مطلب هغه اصل او ریښه وي ـ چه غالباً همداسې هم ده ـ چه په اټمولوجیکی بحث پورې اړه لري لکه دا چه یوه ښاغلی و یل موږ «کښې» ته ځکه تر «کی» څخه ترجیح ورکوو چه په نو رو مشتقا تو کښې یې هم همداشکل را ځی.

په دې صورت کښې نو بیا خبره هیڅکله هم املایی نه شی کیدای او نه دا کیدې شی چه دې د املا د صحت او خطا د پاره دا دلیل محك اوسند وګرځی.

۲ـ دا چه دوهم اساس «ګرامر او قانون» ګڼل شوې دي او وایې چه د الفاظو په لیکو کښې د ګرامر مراعات ډیر زیات په کار دی. په دې خبره کښې هم دوه خبرې دی. لومړی دا چه د غه بحث ژبنی بحث دی نه املایی او دوهم دا چه هغه مثالونه چه په دی برخه کښې ورکړل شوي دی هغه بیا په ژبه کښې په تشریحی ژبپوهنه یا ګرامر کښې نه راځی.

۳ـ دا چه درې یم اساس د تلفظ سهولت او التباس ګڼل شوې او ویل شوی دي چه یوه کلمه د بلې په شان باید و نه لیکو او د التباس مخه ونیسو. ګو رو چه آیا دا هم د املا د صحت او غلط د پاره کوم اساس کیدې شی او که یه؟

په دې برخه کښې هم که د تلفظ د سهولت څخه مطلب دا وی چه باید کلمه داسې و یکل شی چه سړی یې په اسانی سره ولوستلای شی یعنی کوښښ وکړو چه هر فونیم د یوه واضح ګرافیم په واسطه وښیو. دا خبره خو بیا ډیره ښه املایی خبره ده او که مطلب د کلمې د تلفظ څخه هغه تش په نامه سهولت وي چه په «عنعنوی معانی» کښې خبرې پرې کیږي هلته نو بیاهم خبره د املا څخه وزی.

البته دا چه ویل کیږی چه باید د التباس مخه ونیسو دا خبره واقعاً د عنعنوي املا په عنعنوي خبرو کښې ډیره ښه خبره ده اما کوم مثالونه چه په دې برخه کښې راغلی هغه داسې مثالونه نه دی چه دې د هغو

په بیلو بیلو بڼو لیکل په دې غرض و ګڼل شي چه التباس دې اړي شي.

مثلا وا یی چه موږ باید «ګوډ» یعنی «لنګ» «ګډ» و نه لیکو ځکه چه د «ګډ» سره یې التباس راځی اما زما په فکر دلته هم خبره هغه ده چه کلمه څنګه چه ویل کیږي باید (حتی المقدور) هغسی ولیکل شي. یعنی څرنګه چه دا کلمه له اړه له دا ی څلورو فو نیمونو څخه جوړه ده چه دری کانسو نینټ فو نیمونو ته یې موږ پخپله معموله املا کښی څرګند ګرافیمونه یعنی (ګ، و، د) لرو نو له دې امله باید چه دلیکلو په و خت کښې هرومرو و لیکل شي.

٤ـدا چه لیکل شوی دی چه کله که له دوو کلموڅخه یوه جوړه شوې وی نو بیایی په ایک کښی بیلتون نه دی. یا دا چه د وه بیلې بیلې کلمې به یو له بله په لیکو کښی نه سره نښلوو و اقعا چه دا حکم د عنعنوي املا په بر خه کښی یو ډیر ښه املا یې حکم دی اوښکاره په املا پورې اړه لري او دعنعنوی املا د سره کولو د پاره ډیر ښه حکم دی. اما دا چه د نوي او یوې کره املا د را منځ کولو لار کومه او اساسات یې څه دي دا هغه مساء له ده چه زه به یې په خپلو راتلونکو بحثونو کښی په مفصل ډول سره وخیړم.

(د ٤۰ مخ پاتی)

هګل او د روح فلسفه

اوسرونه قربان کړی هګل عقیده لری د دی لپاره چه دولت دغایت الغایت درجی ته ورنژدی شی مختلف شکلونه غوره کوی ولی د دولت دا شکلونه د زمانی په تیریدو سره زړیږی دهغه په ځای بله مرحله یا دولت په بل شکل ظهور کوی په دی ډول سره مخ په کمال ځی دغه نتیجه د دولتونو اوملتو نو د دائمی کشمکش په اساس حاصلیږی دیوه قوم غلبه په بل قوم باندی د دی لپاره ده چه دولت د معقو لیت درجی ته ورنژدی شی د یو ه قوم غلبه په بل قوم باندی د حق غلبه ده مګر دا حق یو نسبتی شی دی چه تل د مطلق او واقعی حق وخواته نژدی کیږی په هره زمانه کښی چه یو قوم د حق مظهر وی هغه قوم غالب کیږی پدی اسا س که تاریخی سیرته په غور و کتل شی دا مسأله تری ښه څرګندیږی.

د مثال په توګه یو وخت د ختیځو هیوادونو د عظمت دوره وه په هغه پسی یونانیان را غلل وروسته د رومیانو د عظمت دوره شروع شو ه دهغه نه پس جرمنی قومونه غالب شول چه نوی نوی دولتونه ئې تآسیس کړل هغه څه چه د دولت د موجودیت غایه وه د دی د و لتو نو پواسطه حاصله شوه عقل د دی دولتونو د بیرغ لاندی په ځان پوه شو. او د استقلال مرحلی ته ورسیده د دې ټولو مرحلو سره یو بله اخر ی

مرحله هم شته چه هلته انسان ځان پیژنی او ازاد وی دا مرحله دمطلق روح په نامه سره یا دوی پدی مرحله کښی روح د روح محکوم دی په لومړی مرحله کښی چه روح د ذات په داخل کښی و دخارج نه بی خبره په ځان لگیاوځه و خت چه روح د ذات خارجی برخوته متوجه شود ځان ځخه بی خبره په جهان کښی سر گردانه شو هگل وائی چه انسان هغه وخت کمال ته رسیږی چه د واړه جنبی سره ترکیب کړی د واړه خواوی یو بل ته متوجه شی دیو بل نه پوره نماینده گی وکړای شی یعنی ناظر او منظور یو شی وی دې حالت ته هگل مطلق روح یا د مطلق ذات په باب د علم مرحله بولی هگل مطلق ذات او مطلق روح یو شی گڼی پدی باره کښی کوم فرق او بیلوالی ته نه قائلیږی.

په پای کښی د هگل له افکار وځخه چه کومی مهمی نتیجی باید هغی ته وسپارل شی هغه دادی :

۱ـ د عقل سیر په طبیعت کښی ، هگل د عقل لپاره دری مرحلو ته قائل شود امرحلی د انسانیت تاریخ له لومړنی دوری ځخه تر هغه لوړ ې اخری مرحلی پوری چه هلته د مطلق ذات سره مخامخ کیږی ترتیب کړی یا په بله ژبه سره د مطلق ذات ځخه د انسانیت تاریخ شروع کوی بالاخره مطلق ذات ته ځان رسوی او خپلی فلسفی ته په دایروی صورت سره دوران ورکوی .

۲ـ د هگل په نظر هر مثبت شی عقلی وی هر واقعیت معقول وی او هر شی چه معقول وی واقعیت لری .

۳ـ هگل عقیده لری چه د عقل له تحول ځخه تاریخ پیدا کیږی او بیا خپله عقل د تاریخ په دور کښی تحول کوی دا تحول پخپله تاریخ دی د هگل په نظر د تاریخ او تاریخیت مفکوره داده چه تاریخ د خالصو تصادفاتو او اتفاقاتو ځخه جوړ نه دی او د تاریخ مفهوم په دوو برخو ویشی لومړی مثبتیت دوهم ارتقاء .

---

(۱) مأخذ په اروپا کښی د حکمت سیر. محمد علی فروغی.

(۲) د فلسفی تاریخ مؤلف ویل ډرانت ،

(۳) د سیاسی فلسفی تاریخ د وهم ټوک (پازارگار)

(٤) صنفی یادداشتونه .

(٥) د فرد او اجتماع دیالکتیک « کابل مجله »

میراث

یوه ډرامه

په څلورو بردو کښې

لیکونکی :

عبدالرؤف «قتیل خوږیانی »

اوله پرده

خلك

جمال :- دشمینې میړه

ثمینه :- دجمال خان ښځه

چابك :- دجمال مزدور

سلیم :- دجمال و ر اره

ځای

(یومتوسط کورله مختصرولوازمو سره)

خبرې

«کله چه پرده پورته کیږی جمال خان او ښځه ئې په چرت کښې ناست وی جمال خان خپلې ښځې شمینی ته مخ را گرزوی اوورته وائې چه:»

جمال:- شمینی زمانه خو بیخی لاره ور که ده او هیڅ نه پو هیږم چه څه و کړم څه چه دپلار نه په میراث راپاتې شوی وهغه خوسلیم را سر ه نیم کړه خدای شته چه دومره زورئې را کړولکه چه په پڅه چاره ئې رانه دوجود غو ښې بیلې کړی وی افسوس چه پنځو کسو ملامتولم او که نه نودسر په کاسه کښې به مې او به ور کړ ی وای ... خیر څه چه وشوه هغه وشوه... او س (۱)(دیم) خدای خیر پیښ کړی گوروبه ..

---

(۱)د(دیم) مخفف

په هر حال خوزه نه پوهیږم چه څه و کړم او څنګه داخپل کار و بار برابر کړم هر څومره چرت چه وهم فیصله را نه ور که ده هغه دهوښیارانو خبره چه: «که میړو نه غرونی دی نو ښځی اړمو نه دی» نوله تاسره هم سلا، مشوره په کارده بیابه و ائې چه سړیه کاردی و کړو اوزه دې په تورو بور پویه نه کړم او .... (شمینه په خبر و کښې ورلویږی).

شمینه:ـ سړیه! په سلیم څه پړه اچوی وړ یا خودی احسان کوې سلیم ته خو دې محنت نه دی ور کړی خپل وراره دې دخپل پلار حق درنه بیل کړو.

جمال: (په غوصه کښی) ته اوس قاضی کیږه راته مه. درسته ده چه پردی رانه نه دی خپل وراره مې دی دزوی نه راته گران دی خو، ښځې لږ پکر خو هم په کار دی د کومی ورځې نه ئې چه دخپل پلار برخه رانه بیله کړې ده په دا یو ه حویلی کښې می پوښتنه نه کوی چه کا کا څه حال لرې څنګه ئې؟ اگرچه زه سلیم ته ایتیاج (۱) نه یم او نه اړه ورته لرم ځکه چه اوسم (۲) دخدای فضل دی هر څه لرم مگرم زه دې ته اریان یم چه زما او دسلیم برخه برابره وه اوس چه زه پکر کوم دهغه مال زما، نه زښته زیا ت د ی اوزما دادومره مال دهغه دمال په مقا بل کښی هیڅ شی نه دی.

شمینه:ـ برخی خوددواړو یوشی وې تا په بی ځایه خرڅونو اوجوارۍ برباد کړه اوهغه وساتله.

جمال:ـ ښځې نور نه پوهیږم داسی یو چل په کار دی چه دسلیم مال اوشته ټول زماشی زماخو بیخی خوب ورك دی کرۍ شپه په کټ کښی آوړم راوړم اوپه همدې سودا کښی ډوپ یم چه دسلیم مال به په څه چل لاس ته راولم او خپلو م به ئی که واده ئې و کړواو د کمال لورئی کورته راوسته نو بیا ...

شمینه:ـ بیابه نو څه وشی؟

جمال:ـ بیابه داسې څه وشی چه په خپله به ورته اریانه وې اوپه پرتو گ به ئې نه پوهیږ ی خوهمدا اوس ئې غم په کاردی.

«په دې کښی چابك چه د جمال نو کردی راننوزی اوسلام آچوی»

چابك:ـ باداره، خان باداره سلام الیکم.

جمال:ـ والیکم سپیره چیر ته ورك وی.

چابك:ـ باداره ورك نه وم کار می کو لو.

جمال:ـ ښه نور.

چابك:ـ نو، ښه نور، ته ودری باداره چه زه پکر و کړم چه څه ؤ نور ښه باداره نور.

(۱) د «احتیاج» مفغن (۲) د «اوس هم» مخفف

جمال: ـ ورك شه لوډه غال مغال پریده چابك باداره! غال‌مغال خومې نه دې کړی په نور کښې پکر کوم رښتیا را په یاد می‌شو ښه‌نور آڅه شی دی، دغه دی، څه بلا. که‌دې پکروی کنه. هغه‌ولا باداره‌په‌زړه می گرزی خودا کومی مې‌لږ تنگ دی‌خو لې ته مې نه راجگیږی.

جمال: ـ ورك شه‌مسخرې پریده. شمینې! ته چابك‌یو‌چای‌راته‌راوړه «شمینه‌پاڅیږی اوځی»

چابك: باداره سلامت‌اوسیء بی‌بی‌مه پازابوه (۱) چای‌نه‌څکم.

جمال: ـ ورك‌شه ماځان‌ته راعو ښتی‌دی.

چابك: ـ مونږ څه‌خبروزمانوم دی په کښی واخستوماوې که زما غم‌دې وخوړورښتیا باداره هغه‌دنو رخبره پاتې‌شوه.

جمال: ـ ښه‌وایه کنه کمه کله(۲) څه‌خبره ده؟

چابك: ـ نه‌باداره کمه کل‌راته‌مه وا یه‌چه زه بیاخپه کیږم هماغه پخوا نی تلخص می بس‌دی.

جمال: ـ ښه‌ته‌اوس خبره کوه.

چابك: ـ دنورخبره. نورخوداچه‌زه‌چه‌حویلی ته‌راننوتلم سلیم‌راته ډیره کلکه ستړی مشی وکړه‌اوویلی‌چه کاکاته‌می سلام ووایه.

جمال: ـ کینه‌لوده. کاکاته می‌سلام وایه. (۳) دخبرو شوې. سلیم کله‌زماپوښتنه کوی.

چابك: نه‌بادار گله په‌سلیم جان خوته‌ډیر گران یې‌په‌هرځای کښی‌دی‌طرفداری کوی.

جمال: ـ چپ‌شه‌ورك‌شه. په‌سلیم‌جان خوډیر گران‌ئی‌تم‌په گرانښت‌پوی‌شوې بدبخته. زه‌به هغه‌وخت‌په‌سلیم‌جان گران‌وم چه‌یوځای‌را سره‌او سید لای خپل مال‌اودولت‌ئې ټول را سپارلی‌وای.

چابك: رښتیا دې وې بادا ره‌دا خوډیر بد کوی‌چه‌مال درنه(منع) کوی‌زه‌به ورته‌ووایم چه‌در یی کړی.

جمال: ـ چپ‌شه‌ورك‌شه هغه، زمانه‌منی چه دزوی‌په‌شان‌مې لوی کړی‌دی ته‌به‌ورته ووائی

چابك: ـ زه‌څه‌خبروم ماوې که‌زما ومنې.

جمال: ـ لوده‌منل، منل‌پریده‌یوه سمه چاره ئی‌په کارده،

چابك: ـ دڅه‌شی‌چاره.

جمال: ددې‌چاره‌چه‌دامال‌اودولت‌ئی‌ټول‌زماشی

چابك: ـ نورمالم(٤) غواړی اوس خوټوله ورځی‌ناقراره‌یو که‌دسلیم جان مال‌دې خپل کړونو بیابه‌دشپیم(٥) په‌قرارنه‌یو،

جمال: ـ ته کم کل ئی که دسلیم‌مال‌زماشو خو نور نوکران به ستا دلاس لاندې پیداشی

(۱) د(په‌عذابوه) مغفن ۲ د (کم‌عقله) مغفن ۳ د(ته‌هم) مخفف ٤ د(مال‌هم) مخفف ٥ د(شپی‌هم) مخفف

اوته به ورباندې اوالداری چلوې .

چابك:ـ نورنو کران. یه باداره په نورونو کرانو کښې دې نه یم بیا به را سره جنګ کوی نور کارونه به درنه پاتې وی ایله مونږ به خلاصوې.

جمال :ـ ته داخیله ګی پریږده په چاره کښې پکر کوه .

چابك : ـ چاره «خندا» باداره! ډیر زورور سړی مې ته ولیدې چاره خوئې آسانه ده .

جمال :ـ څه چاره . څنګه آسانه ده .

چابك : ـ اګر چه باداره سلیم جان خومیړه ځوان دی او ، له تا نه په ما زیات زئیردی زړه مې ام ور باندې نه کیږی خو وایم ئې باداره که خوښه دې وې راشه کنه چه مړئی کړو خوخون ئی ستا په غاړه .

جمال :ـ ولا چابکه ته خوډیر هوښیار سړی ئې . بده دې ونه وې خون به ئې په بل چا ور واړ وو خو دا را ته وایه چه څنګه به ئی مړ کړو .

«په دې کښې د پښو آواز خیجی چابك وائی چه »

چابك : ـ چپ ، چپ، چپ شه با دا ره داخبرې نورې پریده لکه چه سلیم جان راغې .

سلیم :ـ کاکا جانه سلام علیکم .

جمال :ـ وا لیکم سلام سیلم جانه زویه په خیر را غلې په خیر راغلې هی هی زو یه چه پلار دې ؤ خدای دې وبښی چه یوسات به ئې ونه لیدلم دنیا به ور باندې قیامت وه . او ته په دایوه حویلی کښې سر نه راښکاره کوې .څه بې مینې زمانه ده .

سلیم :ـ ولا کاکا جانه اګر چه ډیرمې یا دیږې او هروخت مې په زړه ګرزې خو څه وکړم په خپلو سبقو کښې ډیر نښتی یم نه وزګار یږم چه خدمت ته دې حاضر شم .

جمال :ـ بچیه اوسم ستا په باره کښې سره غږ یدلو چه سلیم جان ځوان دی اووا ده ورته په کار دی . پلار دې خدای وبښه (دژ ړا په حال کښې) دهغم (۲) دوه کاله تیرشو نورنو ورته مه ګوره. بچیه دنیا تیریږی زم (۳) اوس سپین ږیری یم دامې ارمان دی چه دواده ډولی دې په غړ یدلو ستر ګوو ګورم .

سلیم :ـ ولا کاکا جانه ګورو به .

جمال :ـ بچیه زه پو هیږم چه د کمال خان دلور سره مینه لرې او خوښه دی ده زه چه کله کله دحو یلی انګړ ته وزم نو دباجې غږدې اورم چه دهغې په باره کښې سوی سوی ځګیروی کوې .

۱ د(مې هم)مخفف دی

(۲) د (هغه هم) مخفف (۳) د(زه هم)مخفف

چابك :ـ خان باداره دڅه شی ځګېر وی؟

سلیم جان خوڅه نا جوړه نه دی چه ځګېر وی کو ی .

جمال :ـ چپ شه الکه(۱) ته په دې خبرو ، نه پو هیږې نو سلیم جانه زو یه که خوښه دې وې هماغه د کمال خان لور به درته و کړم چه سات دې ورسره تېر وی .

سلیم :ـ کاکا جانه زما خوښه خوستا په لاس ده ته چه څه وائی زه ترې غا ړه نه غړ و م

جمال :ـ اوس ستاخو ښه ده ؟

چابك :ـ زمام (۲) خوښه ده .

سلیم :ـ کاکا جانه ته چه هر څه کو ې زما پرې رضا ده .

جمال :ـ ښه ده چه خو ښه دې ده تاسی چای سره څکئ زه به و رشم ا و ورسره فیصله به ئی کړ م .

سلیم :ـ زه هم خپل اطاق ته ځم سبقو نه می لږ سخت دی ګورم ئې .

چا بك :ـ باداره د سلیم جان بادار کارمې خلاص کړه .

« دوی پاڅیږی پرده کش کیږ ی »

(۱) د(هلك) مخفف

(۲) د (زماهم) مخفف

دویمه پرده

«جمال د کمال په کور کښې »

خلك

کمال:ـ دزیبو پلار

قسیم:ـ دزیبو ورور

جمال:ـ دسلیم کاکا

بدمیر:ـ د کمال نو کر

«ځای»

«یومتوسط کورله مختصر ولوازموسره»

* * *

«چه پرده پورته شی کمال دخپل زوی قسیم سره ناست وی بدمیر د کمال نو کر په یوه ګوښه کښې غلی په ګونډو وی ».

کمال:ـ بچیه په خپلو سبقو کښې کوښښ کوه په مونږ خو تیره شوه چه ته له خپلو امزولو مرتبیانو، نه وروسته پاتې نه شې زویه نن ورځ دعلم دنیاده قدر او عزت ټول دعلم په واسطه حاصلیږی نسب او حسب دچاپه درد نه خوری ټول فضیلت په علم کښې موجود دی نن هغه څوك دقدر وړدی او خلك داحترام په درنه ستر ګه ورته ګوری چه عالم وی .

قسیم:ـ پلاره زمونږ دمکتب په کتابونو کښی لیکل شوی دی چه پوهنه رڼا ده خوزه په دې نه یم پوی چه دا پوهنه څنګه رڼا .

کمال:ـ اګرچه ماڅه نه دی لوستی او نه

پلار په څه لوستلو مجبور کړی یم خودخپل اکل(۱) نه‌دومره‌پوهیږم‌چه‌علم اوپوهنه رښتیا رڼاده یعنی‌علم‌انسان ته دژوندون‌لارې روښانه کوی اوپه ښه لاره ئې برابروی نوته‌هم زویه کوښښ وکړه چه پوی شې‌اودخپل ژوندون نیمگړی‌اړخونه‌دعلم‌په وسیله‌پوره کړې .

قسیم:ـ هوپلاره چه کوښښ ونه کړم خوبیا ناکامیږم .

بدمیر:ـ دروغ‌وائی ټوله ورځ په کوشو کښې دالکانو(۲). سره ډی کوی اوټکی‌سبق نه لولی .

قسیم:ـ چپ شه ورک شه دروغ څله وا ئې .

کمال:ـ نه زویه وخت خوشی مه تېروه همدادې‌وخت‌دی بیابه ارمان کوې .

بدمیر:ـ هوباداره‌لکه زه چه ارمان کوم .

«په دې کښی ټک‌ټک کیږی» .

کمال:ـ آلکه بد میره ته وگوره چه څوك دی .

بدمیر:ـ ورکئی که باداره‌څه ئی راباندی گورې چه ټک ټک کوی خو حتماً څوك خوبه وی .

کمال:ـ سپین ستر گیه ته‌خوئې وگوره چه څوك دی .

بد میر:ـ ښه که‌څوك و،رائې‌ولم که‌رسخت ئې کم .

کمال:ـ بدبخته ته خویې اول‌وگوره‌چه چه څوك دی .

«بد میردروازې ته ورځی او بیا را ځی وائې چه»

بدمیر:ـ باداره هغه ډیر گوی دی ورك ئې که رسخت‌به ئې کم

کمال:ـ څوك ! وبد بخته .

بدمیر: ـ څه دی هغه ډیر چه غږ یږی اودخلکو ماغزه خوری .

کمال:ـ څوك ته خوئی نوم واخله

بدمیر :ـ هغه څه نومیږی دغه دی دا هغه جمال خان ورته وائې که‌څه ورته‌وائې.

کمال:ـ بدبخته‌هله زر ئې راوله

«بدمیرورځی او جمال راولی»

جمال:ـ انشاء الله چه سیاه سرې خوبه نه وی .

بد میر:ـ زمونږ ټولوسرونه تور دی سپین سری خو نه یو .

جمال:ـ سلام الیکم کمال خانه یا ره څنگه ئې ؟

(۱) د(عقل) مفغن ۲ د (ملکانو) مخفف

کمال:ـ والیکم والیکم په خیر راغلی اشنا. پس له ډیری مودې! څنګه دې لارغلطه کړه کور کښې خیریت دی واړه زیګه ښه دی سلیم جان ښه و.

جمال:ـ شکرستاسی په کور کښې خیریت دی.

بدمیر:ـ بالکل خیریت دی زه خوبیخی جوړیم حتی چه په سرمی هم نه دی دردشوی.

کمال:ـ چپ شه آلکه ته غزیزه مه.

جمال:ـ یره ته چه جوړ ئې نو ټوله دنیا جوړه ده.

کمال:ـ آلکه بد میره لاړشه جمال ماما ته چای را وړه.

بدمیر:ـ خان کاکا تور خورې که شین که در ویشته.

کمال:ـ څه ورک شه شین ور ته راوړه.

جمال:ـ نه نه چای ته حاجت نشته چای مې بیخی ډیر څکلی مینه مې ورته نه کیږی.

بدمیر:ـ ډیر ښه دی چه مینه دې نه کیږی زم (۱) ولاړیر ستړی یم دخوځیدو، نه یم

کمال:ـ آلکه بد میره چتی کړ تی مه کوه ورک شه.

بدمیر:ـ څه..: بدخومې و نه وې پوښتنه ښه ده.

کمال:ـ ښه جمال خان اشنا! څنګه دې زمونږ غریبانو پوښتنه و کړه او دې خواته راغلی.

جمال:ـ ولاړیره موده وشوه چه نه می ئې لیدلی زیات مې یاد دیدې که ښتیادرته ووایم همیشه مې په زړه کرزیدې دنیائې چارې دې اور واخلی سړی نه پریږدی چه دوستان او آشنایان وګوری نن مې ټول کارونه پریښودل ماوې چه ودې ګورم ضسنامې یوه خبره هم درسره کوله

کمال:ـ هر کله راشې ډیر دې ښه و کړه چه راغلې ښه وایه کنه مهربانی وکه.

جمال:ـ ولا دشرم اولږپته شانته خبره ده که دوی ووځی بده به نه وی.

«بدمیر او قسیم ته اشاره کوی»

بدمیر:ـ او سم له خپل کور نه شړې میلمه راغی کور به ئې وشړلو

کمال:ـ آلکه قسیمه بچیه ته او بدمیر ووځئ چه زه دجمال سره وګړیږم چه څه وائې.

بدمیر:ـ قسیمه راځه په دروازه کښې به ورته غوږ ونیسو چه څه وائی.

کمال:ـ وځه ورک شه بدبخته. ځئ حجری ته لاړ شئ. «بدمیر او قسیم دواړه وځی»

کمال:ـ ښه جمال خان اشنا وایه کنه.

(۱) د (زمه) مخفف

جمال:ـ(آخوادې خوا گورې بیا کمال خان ته مخ را گرزوی او وائې)دا زما وراره خو، به پیژنې کنه سلیم.

کمال:ـهوډیر ښه ئې پیژنم. ډیر ښه آلك دی څنگه ئې نه پیژنم.

جمال:ـتهخو غوږ کیده سړیه چه زه درته څه وایم ښه آلك دی دخبرې نه خبر نه ئې ساده سړیه او وائی چه ډیر ښه آلك دی په څه ښه آلك دی.

کمال:ـ خبره څه ده ته خو وایه کنه. (متوجه کیږی).

جمال:ـسلیم په هرځای کښې چاپیردی ستا نوم بدوی او وایی چه زه دزیبو سره مینه لرم او آغه زماسره مینه لری او کله، کله چه مخ شو د مینې خو زه مر که سره کو و زه په آغی مین یم او آغه په مامینه ده.

کمال:ـ(په تنده لهجه) داخبره بالکل غلطه ده زه یقین نه کوم چه داسې خبرې به د سلیم جان دخولې نه ووځی سلیم د ښه اخلاقو څښتن تعلیمافته او پوی زلمی دی هغه هیڅکله داسې خبرې نه کوی.

جمال:ـ (له مکره په کهلهجه)سړیه ته ساده کیږه مه زما نه خرابه ده په چا مه غو لیږه. زه درته وایم چه سلیم په هرځای کښې همدا خبرې کوی اوته ئې نه منې.

کمال:ـ(په تر یوتندی)جمال خانه خواهش کوم چه له دې خبرونه خوله و نیسه ته نه شرمیږې چه د خپل وراره سپکه کوې او نوم ئې بدوی؟ بله داچه ماته خدای داسې لور را کړې ده چه دداسی هوسونو سره بیخی مینه نه لری او نه بې ځایه گرزی.

جمال:ـخدایږوزه درته قسم کوم چه همداسی ده.

کمال:ـ(په غوصه)جماله خوله و نیسه هوش کوه چه نورې دا خبری و نه کړې وځه که بیا مې په دې طرف ولیدې پښې به درباندې ماتې کړم نابوده سړیه په دی نابودو خبرو.

جمال:ـزما وه د مسلمانی خبره وه درته مې و کړه خو په تا بده ولگیده رښتیا چه رښتیا ؤوخت نه دی.

کمال:ـبس نور، و نه غږیږی. جگیږه، پاڅه. «د دوی غال مغال پورته کیږی په دې کښې بد میر را ننوزی او وائی چه»

بد میر:ـباداره څه خبره ده.

کمال:ـهسی چتی داخو پخپله: هشرمیږی غواړی چه هم خپل وراره وشرموې او هم نور وشرموی.

بدمیر:ـ باداره وئې باسم.

کمال:ـوئې باسه.

بدمیر:ـوځه بد بخته پورته شه ښه دی چه چای مې درته نه دی راوړی.

«بدمیر جمال له لاسه نیسی او وباسی ئې پرده کش کیږی»

دریمه پرده

دسلیم مرګ

خلك

جمال :ـ دسلیم کا کا

شمینه : ـ دجمال ښځه

چابك :ـ دجمال نوکر

سلیم:ـ مړی

دسمت مامور

دوه تنه پولیسان

ځای

«یوښکلی کورله ښو لوازمو سره»

☆ ☆ ☆

«جمال ، شمینه او چابك دري وا ړه سلیم وژنی تو مانچه د سلیم د مړی په لاس کښې در کوی او دهغه دخوانه یوخط هم لیکی ـ دپردی خلا صیدو سره سم د توما نچې ډز کیږی پرده چه خلا صیږی د سلیم مړی د کټ دپاسه لیدل کیږی چه تو ما نچه ئی په لاس کښې ده او د کټ تر څنګه په ځمکه یوخط هم پروت دی چه یو څو ثاثکی وینه ورباندې تو یه شوې ده دتوما نچې دډز سره یو ځای جمال، شمینه او چابك په چالاکی سره منډه را اخلی غال مغال آ چو ی او جمال وا ئی چه:ـ»

جمال :ـ سلیمه ز ویه د پلار یوزوی او نښه وی هی هی (به ژړا) ما و ې چه زه به ستا ډولی په خپلو ستر ګو ګورم افسوس چه ځوا نیمر ګ شو ې ـ سلیمه بچیه بې لتانه خوما ته ژو ند و ن خوند نه ر ا کوی زما ملا ،دې را ماته کړه .

شمینه :ـ زما دلډور ګر انه زویه د زیبو پسی د ې خپله ځوانی خاوری کړه .

«جمال دپو لیسو د سمت ما مو ر یت ته تلیفون کو ی او وائی چه ؛»

جمال :ـ ماموریت سمت ... .مامورصیب ئې . . . هله ډیر زر (۳۰٦۹) لمبر کورته تشر یف را وړیء، زما وراره سایم جان خپل ځان وژلی دی یو خط ئې هم لیکلی دی . . . هوځان ئی وژلی د ی . . . هو په خط کښې ئې لیکلی دی چه ماد کمال خان لور زیبو سره مینه دراو ده څر نګه چه پلا ر ئی خپله لور رانه کړه او زما معصو مه مینه نا کامه شو ه دیته مجبو ر شوم چه ځا ن ووژنم د ځان قاتل زه پخپله یم زما په مر ګ دې حکومت زما تره او نور خپلوان نه نیسی .

هو ... صیب ډیر زر تشریف راوړیء

«جمال د تلیفون ګو شك ز د ی آه او فریاد کوی په دې کښې د سمت مامور او دوه

نفره پولیسان راننوزی مامور د سلیم له لاسه تومانچه را اخلی دستمال پرې دپاسه غوړوی اوبوی کوی ئې اویو نظر د کور په خلکو هم آچوی جمال، چابك اوشمینه په وارخطائې سره ټکان خوری شمینه مخ پټوی اووائې چه : ـــ »

شمینه:ـ وی مامور صیب ماله ډېرې وار خطایی نه مخ هم در نه پټ نه کړ و .

مامور:ـ دسلیم لیکلی کاغذ چیرته دی؟

جمال :ـ صیب دغه دی خدای دې تا آباد لرې د بچیا نو له غمه دې خدای و ساته .

« کاغذرا اخلی او مامورته ئې ور کوی مامور دسلیم کاغذ په زوره لولی »

مامور:ـ هم «سرخوزوی او بیامرموز نظر د کور په خلکو باندی آچوی د کور خلك بیا ټکان خوری»

جمال:ـ صیب دې زماوراره دزیبو سره مینه لرله چه دزیبو پلا ر دلو رله ور کولو څخه انکار و کړو دی مجبور شو اوځان ئې ووژلو همد اسی نه وه چابك خانه!.

چابك :ـ بالکل با لکل خان بادار صیب همداسی وه دخطنی (۱) معلومیږی.

«مامور بیا پردوی مرموز نظر آچوی او هر یوه ته گورې دوی درې واړه له وارخطائی څخه لړ زیږی خصوصاً چا بك . مامور ته دا پته لگیږې چه سلیم حتماً د کور دخلکو له خوا وژل شوی دی او داخطاو نورې علامی یوازې د سیسه د ه او بیا وائی چه :ـ

مامور:ـ هم (سرخوزوی) ډېر ه ښه ده تاسی دمړی دتکفین او تجهیز کارو نیسئی مونږ حتماً اصل وا قعه ځانته معلومو وترڅو چه پولیس اصل واقعه کشف نه کړې څوك نه نیسی دچا په نیولو اقدام نه کوې.

«دا وائی اوؤځی پرده کش کیږی.»

څلورمه پرده

دجمال کور

خلك

جما ل :ـ د سلیم تره

جانو (گونگی) :ـ دجمال بل نو کر

اسد: قاتل

عنا: قاتل

دسمت مامور (ځای)

«متوسط کور له مختصرو لوازموسره »

* * *

« کله چه پرده پورته کیږی جمال، جانو، اسد اوعنا ناست دی جمال گونگی ته مخ را گرزوی اوپه اشاره ورته وایی چه:ـ»

(۱) د « نه ئې » مخفف

جمال:ـ الکه گونگیه ته یو قلم راوړه.

گونگی:ـ هم هم هم (یعنی څه شی راوړم)

جمال:ـ «بیا په اشاره سره» قلم راوړه قلم

گونگی:ـ هم (یعنی پوی شوم)

«گونگی ځی دلر گیو دماتولو قلم او سوټك راوړی او جمال ته یی په مخ کښی ږدی جمال خاندی اوور ته وائی چه:»

جمال:ـ بدبخته قلم راوړه قلم چه خط لیکم

گونگی:ـ (دسر په اشاره) پوی شوم.

«گونگی ځی او جمال ناستو کسانو ته وائی چه:»

جمال:ـ یره ددې گونگی سره می بیخی سات تیر دی ډیر ښه سړی دی په یوه خیټه راسره نو کر دی ډوډۍ ور کوم او کار کوی.

اسد:ـ داخو بیخی ارزانه نو کر دی کاشکی چه دوه درې کسه نور هم داسی پیدا کړې.

«په دې کښی گونگی قلم راوړی او جمال کاکاته ئی ور کوی. اسد تږی کیږی او جمال ته وایې چه:»ـ

اسد:ـ خان کاکا زه خو ډیر تږی یم ددې بلاسره دې ته په خبرو پو هیږی پوی ئې کړه چه او به راوړی.

جمال:ـ «گونگی ته اشاره کوی او خپلې خولې ته لاس وروړی چه:» او به راوړه.

گونگی:ـ هم هم «ځی او د نصوارو قطی راوړی ور کوی ئې».

اسد: دغسی اوس په ښه بلاو اوښتو مونږ او به غواړو او دی نصوار راوړی.

جمال:ـ غرق شی بدبخته او به راوړه «بیا داو بو اشاره ورته کوی»

گونگی:ـ «په سر اشاره کوی» چه پوی شوم «ځی او دا کرت بوتل راوړی»

اسد:ـ هن «په خندا» که خیروی دا کرت ئی تف دانی راوړه.

جمال:ـ او کم اکله او به راوړه او به «په لاس دمنگی اشاره ورته کوی چه دمنگی نه ئی په گیلاس کښی واچوه او رائی وړه»

«گونگی ځی او داځل په خپله منگی راوړی»

اسد:ـ سړی خو ډیر هوښیار دی زمونږ په اندازه نه پوهیدو ټول منگی ئی راوړو.

جمال:ـ کیده منگی ځه لاړ شه ورك شه گیلاس راوړه.

«گونگی ځی او گیلاس راوړی»

اسد:ـ یره خانه دا بلاخوور که کړه ته خووائی چه په یوه خیټه راسره نو کر دی خوسل به دی کړی.

جمال: نه اشتاته ددې پسی مه گرزه ډیر پاك او صادق نو کر دی.

اسد:ـ هر څه چه دی ستا نو کر دی دا خبری پریده اوس زمونږ کار خلاص کړه چه حق په حقدار شو

سره اوس خودسلیم دمرګ نه ښایسته ډیره موده تیره شوه او هنګامه سره شوه هغه زر، زر روپۍ دی چه راسره وعده کړې وه اوس ئی را کړه. د سلیم خون مونږ واخستو او په مال ئی ته خانی کوی.

جمال:- پریده مړه دومره وارخطا کیږه مه چای مای به سره وخکو بیا به پیسی در کړم. زه تاسو نه ډیر خوښ یم په داسې شان مو سلیم راته ووژلو چه بیخی څوك پرې وم نر سید و چه څنګه مړ شو او چامړ کړو.

«بیا ګونګی ته مخ را ګر زوی او په اشاره ورته وائی چه:-»

جمال:- الکه ګونګیه چای راوړه.

اسد:- خانه سازئې پوی کړه چه دا کرت به سماوار راوړی.

«جمال ګونګې ته په لاس دچاینکې او پیالې اشاره کوی او ورته وائی چه: » چای راوړه.

« ګونګی ځی په پتنوس کښی څو قطعې عکسونه زدی او دپاسه پرې پتنوس پوښ آچوی راوړی ئی جمال ته ئی په مخ کښی زدی جمال خان دپتنوس نه پوښ لری کوی په مجرد دې چه پتنوس لوڅیږی ټول په وارخطائی سره ګونګې ته ګوری او بیا پخپلو کښې سره یوبل ته ګوری جمال ګونګې ته وائی چه: »

جمال :- بدبخته ګونګیه مادرته وو ی چه چای راوړه تاعکسونه را و ړ ه د ا د ې له کومه کړه.

ګونګې :- «په اشاره سره چه » همدائی را کړه چه و یسه.

جمال :- څه شی څه شی څه وائی بدبخته چای راوړه تاڅه شی راوړو.

ګونګی په دې وخت کښی خپل مکیاژ لری کوی دخپلی پولیسی علامه ورته ښئی او بیا وائی چه: -

جانو :- دا ستاسی عمل نامه ده.

جمال :- او بدبخته ته خوتر اوسه ګونګی وې کنه.

جانو :- زه ګونګی نه وم بلکه زه پولیس یم چه د سلیم دقتل دواقعې د کشفولو لپاره ستاپه کور کښې دنو کر په حیث مؤظف شوی وم ډیره ښه شوه چه کامیاب شوم «اسد، عنااو جمال غواړی چه په جانو حمله و کړی مګر هغه ئی دتو مانچی په ذریعه تهدیدوی او ځان تیلیفون ته رسوی دتیلیفون ګوشك را اخلی او دسمت ماموویت ته زنګ وهی ماموریت چه رخیږی اسد حمله ورباندې کوی په دی وخت کښی جانو پولیس دوه هوائی فیره کوی دتو مانچې آواز په ګوشك کښی ماموراوری او ځان هغه

کورته چه پولیس په کښې د کشف الحال لپاره مقرر شوی دی دارسوی اورانوزی تومانچه په لاس وائی چه :ـ»

مامور:ـ خبردارشورو نه خورئ بدبختانو، خونیانو، قاتلانو ځای په ځای حرکت ونه کړئ .

بد بخته جماله ! ددنیا د یوڅو پیسو په مقابل کښې دې دخپل ګران ورورزوی ووژلو. ماده پرست خونخوره ته له خدایه نه ویریدې چه دسیلم ځوانی دې له خاوروسره برابره کړه. زما داول نه په تابدبخت باندې یقین راغلی وچه ددې معصوم زلمی قاتل ته پخپله ئې. مګر راته ثابته نه وه هماغه ؤچه ددې خپل فدا کار زلمی پولیس په ذریعه مې واقعه کشف کړه . بنه شوچه ګیر شوې او دابدبختان هم یو ځای درسره ونیول شوه .

«بیاد پولیس خواته رانژدې کیږی په تندی ئې ښکلوی او ورته وائی چه: ـ »

مامور:ـ شابس، آفرین چه په پوره فدا کاری دې دحقیقت له مخه پرده لری کړه او داظالم کاکا دې له اسنا دوسره ګیر کړو .

قاتلانو مخکښی شئ ؟ .

«دوی ځی اوپرده کش کیږی»

دهرام پای

لیونی .

ماته وایی ته هم لیونی شوی یې لکه ځینې فیلسوفان چه په اخر عمر کښې لیونیان کیږی او چتیات وایی .

ښایی چه زه لیونتوب قبول کړم ځکه چه تر اوسه پورې لادلیونتوب او هوښیاری تر مینځ عقلانی تفاوت نه دی موجود مګر تاسوچه هوښیاران یاست فکر وکړئ چه څه وایی؟؟؟

« مترلینک»

مرحوم سید احمد پاچا

مشهور په لالاپاچا

لالا پاچا چه اصلی نوم یې سید احمد پاچاؤ تقریباً په ۱۲٦۰ کال کښې په لغمان کښې زېږدلی دپلار نوم یې سید حسین پاچاؤ. پلار یې د ننګرهارد سپین روبو څخه او د خپل وخت یو نومیالی سید ؤ، لالا پاچا هم د خپل پلار غوندې د وطن خدمتګار او د ننګرهار د مشاهیرو څخه ؤ.

لالا پاچا د مرحوم امیر حبیب الله خان په دوره کښې څه موده داند خوی او سرخ پارسا حاکم ؤ چه لږه موده ورسته یې د رسمی کار څخه استعفا وکړه او په خپل کور کښې یې د وطن او قام په خدمت کښې په ملی صورت کار شروع کړ. په دغه وخت کښې چه د انګریزانو څخه د وطن د ازادی او استقلال ترتیبات نیول کېدل لالا پاچا پــه شنوارو کښې د ګوریلایې جنګونو په غرض په داړو برابرولو بوخت ؤ، چه په دغه وسیله یې د انګریزانو په مقابل کښې ډېر مقاومت وکړ. تر څو چه انګریزانو د ګران وطن افغانستان د استقلال اعلان وکړ. همدا رنګه د وطن په داخلی اغتشاش کښې یې هم ډېر زیات زیار او زحمت وګاله، کله چه شهید اعلحضرت محمد نادر شاه په رنځور ځان دوطن دنجات

مرحوم لالا پاچا

د پاره ځان را ورساوه لالا پاچا او ددوی نورو ورونو یې خورا ښه استقبال وکړ. او د وطن د نجات لپاره یې دهیڅ ډول قربانی څخه ځان ونه ژغوره. کله چه په وطن کښې کراری شوه لالا پاچا په خپل کور کښې د خلکو د خیرخواه په حیث له خلکو سره د ښه سلوك خاوند ؤ او د خلکو د غوندې او مشورت و مصحلت ځای ؤ.

مېلمه پالنه او د هر چا د هغه په اندازه قدر دانی دده ممتاز صفت و.

صحبت یې خوږ او دلچسپ و، د علماؤ او ښو خلکو ډېر قدر یې کاوه.

طبیعتاً سخی سړی و اوله ظاهری سره یې د سترګو مړښت او د خپل عزت النفس ساتنه هم په برخه رسیدلی وه.

دی د میزان په دویمه د اوږدې ناروغی په اثر وفات شو او ډېرو زیاتو خلکو یې په ډېرو ځایونو کښې د فاتحی په مراسمو کښې ګډون وکړ.

ادا ره

زړه‌یې مه‌بونه تو رکانی دصحرا دی
په‌لیدو دزخمی زړه چه ز خمی نه شی

الفت

داشتراك بیه

په‌افغانی

په کابل کښې	٤٠
دهېوادپه‌نورو برخو کښې	٤٦
زده کونکوته‌نیمه‌بیه:	
١ـ کابل	٢٠
٢ـاطراف	٢٣
دباندې‌ملکو کښې:	د امریکایی‌ډالره
دیوې کڼې بیه	٤

دشپږومیاشتواشتراك‌هم‌منل کېږی

دپښتوټولنې‌دجاری‌حساب لمبرپه افغانستان
بانك‌اواطرافی نمایندگیو کښې‌یې: ٧١٨٧

داشتراك بیه‌په‌اداره کښې هم اخستله کېږی

پته

شیرعلی‌خان‌واټ نوی‌ښار

کابل افغانستان

دپښتوټولنې‌درئیس‌دتېلفون‌لمبر ٢٠٣٥٠

دکابل‌مجلی‌دتېلفون‌لمبر ٢١٢٩١

KABUL

Monthly Journal of the

Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on literature, Philosophy

Philology, sociology, art and related fields.

President of the Academy : Gul Pacha Ulfat

Editor : M.Sidiq Rohi

Coaditor : M.Moman Patwal

Address : Pashto Academy,

Kabul, Afghanistan

دولتی مطبعه